کابل

2
Copy

مرحوم

والا حضرت احمدشاه خان

دسلطنتی دربار وزیر

دقوس (۱۶)
۱۳۳۱ ش

۳۲۶

دوالاحضرت ددربار وزیر

له غم نه ډک مرګ

والا حضرت سردار احمد شاه خان دسلطنتی دربار وزیر دعلیاحضرتي معظمي ملکي محترم پلارچه دفوس په (٥) نېټه امریکاته دمعالجي دپاره خوځېدلی ؤ دفوس په (٩) نېټه د(٦٥) کلو په عمر دزړه ددرېدلو په اثر په بمبئی کښی وفات شو . (انالله وانااليه راجعون)

دده جنازه په داسي حال کښی چه په بمبئی کښی ښاغلی پښتني قونسل ورسره ؤ ، د فوس دلسمي نېټي دشپي په یوه بجه په الوتکه کښی کابل خواته وخوځېده . دالوتکي دراتلو په وخت کښی د بمبئی پښتنو ددغه مرحوم په تابوت باندي دګلو کېږدۍ کېښودلي .

کوم وخت چه الوتکه کابل ته را ورسېده دکابل دالوتکو په میدان کښی دجوړ شوی پروګرام سره سم دسلطنتی کورنۍ اعضاؤ ، دوزیرانو هیئت ، کور دیپلوماتیک دولتی مامورینو اوتشریفاتی ټولګی ئی داستقبال مراسم په ځای کړل اوجنازه ددلکشا ماڼۍ ته یوړل شوه .

دفوس په (١١) نېټه دسهار په لسو بجو دمرحوم والاحضرت تابوت دشاهي کورنۍ داعضاؤ اودوزیرانو دهیئت په واسطه ددلکشا له ماڼۍ څخه واخیستل شو اودجنازی په موټر کښی کېښو دل شو په داسی حال کښی چه دسپرو پولیسو پوټولګی اوبیا وروسته پوټولګی پلی په مخ کښی او دجنازی موټر وریسی وروسته روان شو ، دموټر په دواړو خواؤ کښی محترم علما اوشاته ئي والاحضرت غازی سپه سالارصدراعظم، والاحضرت شهزاده احمد شاه خان والاحضرت سردار محمد داؤد خان اود سلطنتی کورنۍ نورغړی اوپه هغوی پسي په ترتیب سره دوزیرانو هیئت ، کور دیپلوماتیک ، داولی رتبي اودوهمي رتبي ملکی اوعسکری مامورین اودد واړو مجلسو غړی او٣ او ٤ رتبي ملکی اوعسکری مامورین دعسکری ښوونځیو شاګردان په کابل کښی پښتونستانی میلمانه دښار مشران اوسپین ږیری دوه پلی اوپوسپور عسکری ټولګی اودښار خلکو دجنازی دموټر سره روان وو دجنازی موکب په لس نیمو بجو دعیدګاه جماعت ته ورسید .

دجنازی لمونځ چه وشو نو دشاهی کورنۍ اعضا وزیران کور دیپلوماتیک اوتر دوهمي رتبي پورې ملکی اوعسکری مامورین په موټرو کښی دمرحوم والاحضرت دجنازي سره دهغه ترادېرې پورې ولاړل اومرحوم والاحضرت داعلیحضرت شهید ترڅنګه په ډېر احترام دفن کړی شو .

پښتو ټولنه اودکابل مجله، له دغه کبله خپل ډېر تأثرات داعلیحضرت معظم همایونی اوعلیا حضرتي معظمي ملکي اوسلطنتی جلیلي کورنۍ حضورته وړاندي کوی اوددغه مرحوم دپاره له پاک خدای (ج) څخه مغفرت اوپښنه غواړی .

(۱۷) گڼه

(۲۲) کال

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره

ادبي ، اجتماعي ، تاریخي مجله

د پښتو ټولنې د عمومي مدیر

صدیق الله رښتین

ترکتنې وروسته خپرېږي

چلوونکی: نور محمد «پوونده»

س (۱۶)

۱۳۳ ش

الاول ۲۱

۱۳۷۲ ق

سمبر (۸)

۱۹۵۲ ع

پښتو ټولنه

کابل

افغانستان

د تیلفون لمبر

۲۰۴۷

اشتراک قیمت:

دکابل په ښار کښې	په دننه هېواد کښې	په نورو ملکو کښې
۳۶ افغانۍ	۴۰ افغانۍ	۴ دالره

ددې ګڼې لیکنې

لیك	لیکونکی	مخ
دحضرت محمد «ص» میلاد	ښاغلی کشککی	۰
زمونږ دتمثیل صحنې	« پوونده	۱
پښتو اوپښتانه	« محمد یونس خوږیانی	۳
دقومونو فلسفه	د « فهیم «ترجمه»	٤
علیم ملك	« م : ننګرهاری	۸
ای عاجز انسانه	« دردمند	۹
ګلاب غوندې	« بختانی	۱۱
دشاعر خاطرات	« نقیب	۱۲
دپښتنې پېغلی ژړا	پېغله مستوره	۱۳
اوښی اوظروف	« منیر	۱٤
مرزا رمضان خروتی	« نوابی	۱٦
دچین حکومت	د « سیفی «ترجمه»	۱۹
دښځو دنیا	« روهیلی	۲۱
دپښتو لغوی ښکنې	« رشتین	۲۲
ملی صادق څوك دی ؟	« بلبل افغان	۲٤
کامیاب ادب اوادیب	د « سیفی «ترجمه»	۲٦
خندا اوژړا	« رشتین	۳۱
پښتونی	« خادم	۳۳

ښاغلی مولانا برهان الدینخان کټکی

د حضرت محمد رسول الله میلاد

صلی الله تعالی علیه و علی آله و اصحابه وسلم

د بشریت د خیر خواه مخصوصا د مسلمانو د دواړو جهانو د سعادت غوښتونکی یعنی د حضرت سرور کائنات (محمد رسول الله صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم) نوع پروری . زړه سوی ، ایثار مهربانی ، خیر غوښته مراحم ، اشفاق او د اخلاقو نوري ښېګڼې چه د ده مبارك له غور وصفاتو څخه دی پرته د ده مبارك له خپل ذات څخه ئې په جهان کښې بل کوم ساری نشته .

هو! حضرت فخر کائنات (محمد رسول الله ص) د هر راز ښېګڼو خاوند وو ، چه ئې پوهېدل د (محمدی ص) د مبین دین پیروانو ته به ئې لیار ښوده کوله بلکه د بشریت جهان ئې هم نیکی اوښې لیاری ته رابلل یعنی خلق به ئې له مناهی او منکراتو څخه منع کول د رذائلو او قبائحو په مادی او معنوی ضرر به ئې پوهول حتی د خدای (ج) بندګان به ئې منع شوو چارو نزدې کېدلو ته هم نه پرېښودل .

د همو نېز پېشوا (حضرت رسول کریم ص) دومره غوره او پسندیده صفات درلودل چه پاك الله جل جلاله هم نواله د ده مبارك ذات ئې په قرآن مجید کښې په عالی اخلاقو ستایلی دی .

د سپر علماؤ د درستو پېغمبرانو غوره صفات ټول مفصل او مشرح ایکلی او ستایلی دی خو هغه درست صفات اوښېګڼې ئې پوهېدل د (حضرت فخر کائنات محمد رسول الله ص) په محمود وجود کښې ثابتې کړی دی .

رښتیا داده چه هغه درست پر جسته او غوره شوی صفات ایکه ذکر ، شکر ، علم ، حلم ، اخلاص احساس ، جود ، سخا ، صدق ، صفا ، صبر ، استقامت صنعت ، زحمت ، تواضع ، سلطنت ، سیاست ، زهد اتقاء ، ارتقاء ، اعتلاء انتهاء ئې دا چه درست فضائل او محسنات د (حضرت رسول مقبول ص) په ذات کښې موجود وو ، چه له هغو لېښې ډېری منظری د سپر علماؤ ایکی ئې اوړی کښې شك شته چه ئې د نبی ئې له ډېرو مظاهرو څخه استفاده او کته کوی .

د سردار کائنات (ص) د وقت ډېره برخه په ریاضت او درب العزت (ج) په عبادت کښې تېر ېده او څه خپل عزیزان او ګران وقت ئې په امر معروف او نهی عن المنکر ، وعظونو تبلیغ او د ملت د احوال اصلاح ته وقف کړی وو ، او څه نور وقت به د ژوندانه په چارو او د کلی کور به اداره لګیاوه .

په داسی حال کښې به چه (رسول مقبول ص) جسماً او روحاً د حضرت الهی (ج) په فکر او ذکر کښې به مصروف وو ، د ده مبارك حواس او فکر به دومره مستغرق و ، چه قطعاً به ئې هېڅ او هېڅ شی ته پام او توجه نه کوله . او همغسې هېڅا دومره قدرت نه درلود چه د رازو نیاز په وقت کښې (سردار عالم ص) سره څه دیوی خبری اتری وکړی .

د تبلیغ ، امر معروف او د ملت د احوال د اصلاح کولو په وقت کښې به د (محمدی) د لهجې صراحت فصاحت بلاغت تر دې اندازې تاثیر نا کوه ، چه د رست او ریدونکی به ئې تر تاثیر لاندې راتلل او په خورا ډېر ښه صورت به ئې خلقو ته د راستی او درستی به خوا لیار ښوونې کولی .

د (حضرت سید الابرار ص) عدالت ، دادخواهی او د ملت د چارو اجرا کېدو او خبر ګېری او د بیداد ګرو لاس لنډول ، مظلومینو ته حق رسوونه د وطن آبادول ، د خواشینی او رنځ هوامل ورنه کول د جهانبانی چارې ، د ډېری شهنشاهانو ، پاچاهانو د جمهور رئیسانو ، او دار الشورا ګانو ته بهترین او غوره د ستور العمل دی .

د ژوندانه د چارو په تدبیر کښې هم د (سرور مخلوقات ص) طرز عمل داسې پوره او ټکمیل و ، چه د ژوندانه د چارو بهترین متخصصین هم په سلو کښې اس خپلو نېز (سردار ص) ته رسېدلای نشی د خداوندی احکامو د ابلاغ په مقابل کښې ، فرائضو واجباتو سنتو او اسلامی آدابو په انجامولو کښې به ئې له مردوری او د حق ا ازجمې له آخېستلو څخه نه پوهېدل کر که کوله بلکه به ډېرنا کېدسره به ئې فرمایل چه ،

«امر معروف ، نهی منکر دهر یوه مسلمان ایمانی وظیفه ده اولازمه ده چه محض د الله تبارك وتعالی په رضا ، پرته له طمعې اوریا ، محضاً لله فی سبیل الله هغه دی په ډېر ښه شان سره انجام کړی » !

له داسې بابرکات ذات څخه وګرځم چه د ملت په افرادو باندې دده مهربانی او همدردی دومره ډېره وه چه دخپلو خدامو او ترلاس لاندې خلقو په مشاغلو او اعمالو کښې به ئې هم په خپل مبارك ذات مشارکت او مرسته کوله .

هېڅکله به ئې خپلو او پردیو ته سپورې او درشتې خبرې چه څوك پرې متأثر شی نه کولی .

تل به ئې دښېګڼو او ښه کولو متابعت کاوه محاسن به ئې په ډېر ښه شان ستایل .

هر کله به ئې ملت ته دښېګڼو او درستی لیار ښوونې کولی له بدیو او بد ګزرانی څخه به ئې نه یواځې کرکه کوله بلکه تل به ئې ددغو بدو خصلتو غندنه کوله ، بد او بد کوونکی وګړی به ئې په ډېره ښه طریقه له بد کولو او بدیو منع کول .

دخواصو او عوامو عزت او احترام حتی د حیواناتو او څارویو مراعات ئې هم په داسی شان کاوه چه د پیغمبرانو په داستانو او د تېر شویو او اوسنیو پاچاهانو په دربارو کښې ئې هم مثال نشو پیدا کولای .

دحضرت (محمد ص) رفتار او کردار هر چا سره په حاجت روائی او کار سازی کښې په داسې شان و ، چه پرته د (آنحضرت ص) له خپله درباره څخه بل هېڅ چېرې ئې ساری نشته د حضرت (محمد ص) لطف او مهربانی د ملت په هر فرد باندې پرته له کوم شرط او قید څخه تر دې اندازې وه چه هېڅ یو مور او پلار ئې خپل خواخوږی اولاد سره نشی کولای .

ځمونږ دغه پېشوا (ص) د هر نعمت په مقابل کښې که څه هم ډېر لږ به و . بېحده شکر ګزاری کوله .

د زحمت په مقابل کښې به که هر څومره سخت و ډېر صبور او برده بارو ، .

د رب العزت (ج) د احکامو په انفاذ او د ملت د صلاح او خیر په مقابل کښې به ئې د نیوی حطام ډېر خوار او ناچیزه ګڼل . د صدقانو ، نذورو کفاراتو چه په نننۍ اصطلاح کښې ورته د خیرات خوری ، وائی ډېره کرکه او ډډه کوله ، آل ، عیال خپښان او شته من به ئې د خیرات له اخیستلو او صرفولو څخه جدا منع کول او خورا ډېر تائید او تأکید به ئې کاوه چه باید خیرات هغو مستحقینو ته ورکړ شی چه هغوی په رښتیا د سهار او د شپې یوه مړۍ ډوډۍ ته محتاج او اړ وی .

هر کله به ئې د کارو پوښتنه کوله او د مملکت د درستو نقاطو د عمومی اوضاعو د رپوټ اخیستلو دپاره به ئې مجاهدت کاوه ، د غائبینو د حال پوښتنه او د کور کهول به ئې خبر اخیسته . د مصائبو به دفع کولو او لېرې کولو کښې به ئې ډېر کوشش او هڅه کوله . د ملت له افرادو سره به ئې په غم او ښادۍ کښې یو شان ګډون کاوه .

د دین د ناموس او د مسلمانانو د حقوقو په ساتنه کښې به شخصاً د یوه شجیع مجاهد په څېر د جګړی په ډګر کښې ګډون کاوه . د امت د تعلیم او تربیې په مقصد محض د وسلې استعمالول او حربی تدابیرو کار اخیست ، له دښمن سره به تر هغه پورې جنګېده تر څو به چه دښمن تسلیم شو . د اسلامی خاورې په ساتنه او د کلمة الله اعلاء کښې سره له دې چه روحانی قوی قوه ئې درلود له سر له دې به ئې هم صرف په عادی وسائلو او جسمانی وسائطو ډېرې سختۍ اوربړونه ګالل . د خندق په کېنودلو او د مرچلو په جوړولو کښې به ئې بالذات د یوه مزدور په څېر ګډون کاوه او لکه یو زړور او شجیع عسکر به ئې شخصاً د اعداؤالله په مقابل کښې وسله چلوله تر هغه چه په دې لیار کښې دده مبارك غاښ هم شهید او ټپی شو او په وینو خولم پرهارو د در د له شدت څخه ئې څه ستر ګی پټی شوی او په دې حال به دښمنو یو تر بله د حق او عدالت له منځه تللو او د خوشحالۍ زیری کول او د ښادۍ ډولونه ئې ډنګول ،

خو هر کله چه د مبارك «ص» حال لږ څه ښه شو او له خاورو څخه را پاڅېده داسی اعلان ئې وفرمایل :

«حق حق دی او بری د مسلمانانو دی»

«الاسلام یعلو او لا یعلی»

حضرت محمد رسول الله (ص) به د فتحې او ظفر په وقت کښې هم له مغلوبینو او بندیانو سره ډېره ځوانمردی مهربانی او همدردی درلوده له خپلو او پردیو حتی درستو موجوداتو سره ئې عدل او انصاف کاوه . او د حضرت الهی احکام به ئې په درستو باندی یو راز تطبیقول . اللهم ارزقنا اتباعه !

زمونږ د تمثیل صحنې

له ډېرې مودې را هیسې مونږ هم د نورو تبلیغاتی و سائلو په لړ کښې د خلکو دافکارو در وڼولو او لوړولو مخصوصاً د بېسوادو و کړو د پوهولو د پاره په کابل کښې پوهنې ننداری لرو، چه هر کله درامې تمثیلوی او غواړی چه د موجوده مزخرفاتو سره مجادله و کړی.

شك نشته چه داراز مؤسسې د کام پوهولو او تنویر د پاره ډېره نژدې او لنډه لیار او مؤثره درس خانه ده چه په دې درس خانه کښې له عملی او نظری درس څخه ښه استفاده کولای شی.

هو! مونږ هم غواړو چه زمونږ دغه راز مؤسسې تل په خپل مرام بریالۍ او د کام د پاره نه هېرېدونکی خدمتونه و کړی. منګر زما پعقیده دا مؤسسې به هغه وخت کامیابه او مترقی وی چه د کام په ملی بنسټ خپل ستېژ بناء او د پښتنوالی په صحنو کښې خپل تاریخی مفاخر را ژوندی او موجوده بدعتونه چه عموماً د پردو له پېښو او تقلید څخه را په برخه شوی دی له منځه یوسی.

یعنی دا مؤسسې باید داراز پروګرام تعقیب او پرهغې لاری روانې وی چه د کام تاریخ، کلتور ملی عنعنات، ښه روسومات په ملی کالیو او لباسونو او وطنی آهنګونو کښې د پښتنولۍ په صحنو کښې تمثیل کړی او موجوده مزخرفاتو سره په ډېر جدیت مبارزه او مجادله و کړی. مونږ تنها داجباری ودونو دردنه لرو چه عموماً په هر صحنه کښې د پردیو د دونو تمثیل و کړو او دنڅا او ګډا په نمایشونو خلك ځانته را متوجه او خلك هم صرف دنڅونکی دلید او د پاره صحنو ته راشی، مونږ باید هر راز ډرامې چه د هر رنځ دواوی تمثیل کړو.

مونږ ته ښائی چه په خپلو صحنو کښې تاریخی درامې هم تمثیل کړو او موجوده نسل د پلرونو او نکه ګانو په کار نامو خبر او په کام کښې د پښتنی شهامت، شجاعت مېړانې روح تقویه کړو.

زمونږ نمایشونه عموماً باید په خپل ملی او وطنی لباسونو کښې وی نه چه د پردیو سوټ و بوټ او فیشن رواج کړو یعنی باید کوشش و کړو چه خپل ملی لباس

موله عصر او زمان سره په داشان برابر کړو چه نور خلك ئې په هوس واغوندی نه دا چه دپردیو دلباسو په آغوستلو ځان سنګار کړو .

زمونږ په صحنو کښې باید ملی سازونه ملی آهنګونه ملی سندری نور واوری نه دا چه فلمی ریکاردونه کابی او خپل هېر کړو .

هودا پهزغرده ویلای شم چهدغه تبلیغاتی مؤسسې لکه دتمثیل صحنې دملی لباسو نو دنمونو په تمثیل او عامولو کښې او هم دکابل رادیو مؤسسه دملی آهنګونو سندرو او دوطنی سازونو پهرواجولو کښې دپرلوی مسئولیت لری یعنی دتمثیل صحنې باید هڅه وکړی چه خپل نمایشونه په ملی لباسونو کښې پـه داراز تمثیل کړی چه ورځ په ورځ ئې داقتصاد، صحت، عصراوزمان له مخې په اصلاحاتو کښې پوره ګام واخلی او داسې نمونې میدان ته راوباسی چه زمونږ موجوده مودرن ځوانان دنورو دلباس له ممثلې څخه خلاص کړی چه له ورائی هرڅوك و پېژنی چه پښتون دی ولی چه ننني ورځ دباندنیو د فلمونو له لیدو څخه دامودرن ځوانـان دپر دیو دلبـاس په آغوستولو کښې دومره ماهر شوی دی چه په مشکل سره به ئې څوك وپېژنی چه دی وطنی ځوان دی. همدا راز دکابل رادیو مؤسسه مکلفه ده چه کوشش وکړی چه دپردیو سازونو اوفلمی ریکار دونو په ځای خپل ملی او وطنی سازونه اوآوزونه خلکونه ورواوروی ځکه نن چه ګورو دومره دپردیو سازو اوفلمی ریکار دونو په خلکو کښې تاثیر کړیدی چهحتی کمکی کمکی ماشومان ئې هم په کوڅو او بازارونو کښې پېښې کوی او لهخپلو ملی اووطنی سازونو اونغمو څخه بېنوا دی .

بله دویلو وړخبره داده چه باید دامؤسسی هر کله سیارې وی ځکهپرته له مرکزو او ښارونو څخه چه تبلیغاتی وسائل، یواندازه موجود دی په نورو اطرافی او کلیو کښې فعلاً ځینی محروم یو اودېره لازمیده چه پوهنې ننداري همیشه تبلیغ او تنویر دپاره دباندې اطرافی ځایونو کښې سیر او نمایشونه وکړی ځکه دومره چه فعلاً دغه نمایشونه تاثیر کوی اخبارونه او مجلې او نور داسې وسائل ګټه نشی کولای ولی چه عموماً بېسواد او لهاوستلو اولیکلو څخه محروم دی .

داوې دپوهنوننداروپه باب کښې زماخبری ښائې چه مسئول اشخاص پـکښې غور وکړی

(پوونده)

پښتو او پښتانه

ښاغلی مولوی محمد یونس خوږ یانی

زه پښتون یم او لکه څنګه چه هر سړی طبعاً دخپلی مورنۍ او ملی ژبی سره مینه لری زه هم دخپلی پښتو ژبی سره مینه لرم زما زړه غواړی چه دخپلې ژبی دخپرولو لپاره ډیر زیار وباسم او دنورو ژبو اجتماعی اخلاقی او ګټور کتابونه دخپلو پښتنو وررڼو دګټی له پاره په پښتو ترجمه کړم او دهغو خلکو سره چه ددی ژبی په روزنه او خپرونه کښی زیارباسی پوره مرسته وکړم نو ځکه پښتنو وروڼو ته عموماً او بیا هغو خلکو ته خصوصاً خپله لاندینۍ نظریه وړاندی کوم چه زما غوندی دخپلی ملی ژبی سره مینه لری زما نظریه داده لکه څنګه چه دیو سړی دجسمانی یا روحانی روزنی او لوړتیا لپاره دری شیان عموماً ضرورت لری او بی له دغو دری ګونو شیانو څخه لوړتیا لاڅه چه روزنه ئی هم امکان نه لری همدارنګه دیوی ژبی دروزنی او لوړتیا لپاره هم دغه دری شیان ضروردی ، اول دیو سړی روزنه او لوړتیا هله کیدی شی چه رنځورتیا نه لری او بیا که رنځورتیا لری نو دمرض د «رنځورتیا» تشخیص دوهم شی دی او ددغه مرض دورکولو له پاره درمل او دهغو شیانو ځنی ځان ساتل دریم شی دی چه ددغه مرض دپیدا کیدلو وسیله ګرځیدلی وی - همدارنګه پښتو چه زمونږ ملی او مورنۍ ژبه ده هله لوړتیا مومی چه دپاتی کیدلو وسائل ئی وپیژنو او درمل ئی پوره ښکاره کړو او ددغو وسائلو څخه ځان وساتو نو زما په عقیده دپښتو درنځورتیا «بیرته پاتی کیدلو» وسیله بله ژبه ده چه په مجلسونو او رسمی دوائرو او شخصی لیکنو کښی پوره لاس لری ددی مرض دورکولو درمل هم هغه شی دی چه پښتو ټولنه ئی ورځ په ورځ پښتنو ته وړاندی کوی او دپښتو لغتو ته او داستعمالولو لاره ئی مونږ ته پوره راښئی خو متاسفانه چه له یوې خوا دوا خورو او زیارونه باسو او له بلی خوا دبلی ژبی دلوستلو او استعمالولو څخه ځان نه ساتو له یوې خوا «فارسی» او پښتو سره بیلو وخوله بلی خوا باندنۍ ژبی «انګریزی» فرانسوی ، جرمنی او نوری په کښی ننه باسو ځینی خلك چه ددغو کارونو حس کولی شی نو له یوی خوا دزړه وینی خوری او له بلی خوا دپښتو ټولنی وظیفه لرونکو باندی آفرینونه وائی او شاباسی ورکوی چه تراوسه پوری لا پاتی ده او دپښتو سمسترونه په خلکو لولی اما ځینی نور خلك چه یا دخپلی ژبې سره مینه نه لری او یا ئی بی پایه رنځوری ګوری دپښتو ټولنی څخه ګیله کوی چه ولی ئی په دومره موده کښی پرمخ ټك ونه کړو او خپله مورنۍ ژبه ئی وړو او زړوته ونه شوه ښودلی او ځینی وائی چه ددی لپاره کومه اړه نشته که څوك پښتو وائی او که نه او که ور باندی پوه وی او که نه هغه پښتون دی زه هم وایم چه پښتون دی خو دپلار او مور په واسطه نه په خپله دی ، ښاغلو لوستونکو مونږ ټول پښتانه یو نو ښائی یو اځی دپښتو ټولنی وظیفه لرونکی ګرم ونه بولو موږ ته دایکار ده چه خپل ګران ملت ټول پښتو ټولنه وبولو او که دپښتو ژبې درمل نه شو جوړولی نو دهغو وسائلو څخه خو ځان وساتو چه ورځ په ورځ موله خپلی ملی او مورنۍ ژبی ځنی اړوی او د پښتو ټولنی سره که مرسته نه کوو نو دګیلی حق هم ور څخه نه لرو په پای کښی له خدایه غواړم چه دژبینی «لسانی» استقلال لپاره همداسی ځان فدا کړو لکه دوطنی او ملی استقلال له پاره ئی چه ځاروو او خپلی ژبی ته داسی په درنه سترګه وګورو لکه خپل قام او نژاد ته چه په درنه سترګه ګورو .

د قومونو فلسفه

مترجم: ښاغلی عبدالقدیر فهیم

دمختلف الاخلاق ، مختلف العقیده او مختلف الرائي وګرو تولی ته چه په یوه معنوی مزی کښې سره پیل شوی وی قوم وائی ـ دامزی له اخلاقو نه تینګ . له عقیدې نه عمیق اوله رایې څخه عام دی .

کله کله دمذهب یووالی ددې مزی یوسپنسی شی خوداتار هو مره تینګ نه وی چه دنورو قومی روابطو داضمحلال سبب وګرزی ، هو ! که دا روابط سست او بې خونده وی لکه څنی شرقی ملکونه دا نو بیله خبره ده .

کله خودژبې وحدت ددې رابطې دبنسټ تیزه شی ، خودپر قومونه شته چه په یوه ژبه خبرې کوی ، مګر سیاسی اختلافاتو ، اجتماعی نظریاتو او حکومتی نظام د وی سره بیل کړی دی ،

کله کله دوینی یووالی هم ددې رابطې اساس تشکیلوی خو په تاریخ کښې د پر مثالونه شته چه دهغو له مخې داخبره ثابتیږی چه دپر هم نسل قومونه تیرشوی چه یوله بل نه بیل ، او په خپل منځ کښې د پتنو او دښمنیو له کبله محو شوی دی .

او کله کله خودمادی مصلحت په اساس هم دامزی شلیږی مګر دپر داسې پیښیږی چه نه دې مادی مصلحت وی اونه کوم بل مفاد ـ بیله نفسانیت او منا قشی نه .

ښه نو ! داقومی رابطه څه شی ده ؟ او هغه کومه ځمکه ده چه هلته دقومونو مجسمه جوړ یږی ؟

دقومی رابطې په حقله زه یوه نظریه لرم چه ځنی مفکرین ورته دحیرت او استعجاب په نظر ګوری او وائی چه ددې نظریې اصول او نتایج له محسوسه امور وسره اړه نه لری خیر په هرصورت زما نظریه داده : چه په هره قبیله کښې یو اجتماعی نفس موجود وی ، چه دخپل خوی او جوهر په اعتبار انفرادی نفس ته نژدې او ورته وی .

څنګه چه ونه دخپل ژوند دپاره رنا ـ تاو (حرارت) خاورو او اوبو ته اړه لری همدغه شان اجتماعی نفس هم دخپل وجود دپاره دقبیلو افرادو ته اړ دی ترڅو وشی چه هغوی له نورو قبیلو (کنډی ، تیپی) څخه بیل ځانته مستقل موجودیت ولری ، اجتماعی نفس خاص ژوند او بیله اراده لری ، لیکن څنګه چه زما دپاره دهغې زمانې

څرګندول او تعین چه په هغه کښې انفرادی نفس پیدا شوی وی ګران دی ، نو په همدغه څېر دهغه زمان تحدید او ښکارول هم څه آسان کار نه دی چه په هغه کښې اجتماعی نفس تشکیل کېږی .

نو په دې خو ضرور پوهېږو چه مصری قوم پنځه سوه کاله پخوا له هغه چه دنیل په غاړه دسلطنت اساس کېږدی ، ډګرته را وتلی دی ـ نو مصریانو پخپلو تو او مذهبی ، فنی او اجتماعی مظاهرو کښې له هماغه اجتماعی نفس څخه استمداد کړی دی . څه چه مادمصر په حلقه وو بل هغه داشور ، ایران ، روم ، عرب او نورو نو یو قومونو متعلق هم ر ښتیا کیدی شی . زما مطلب په جدیده قومونو کښې هغه قومونه دی چه له منځنۍ پېړیو څخه وروسته دهستۍ ډګرته راوتلی دی . زه وایم او دا خبره بیخی رښتیا ده چه اجتماعی نفس ځانته مخصوص ژوند لری ، او څنګه چه هر ذیروح محدود عمر لری ، همدغه رنګه داجتماعی نفس دپاره هم یوه زمانه شته ده چه له هغې نه پورته نشی تللی .

څنګه چه شخصی وجود دماشو متیا څخه دهلکتوب ، ځلمیتوب خواته اود بیادزرښت ادبې بسۍ په لور قدمونه اخلی او حالات ئې بدلیږی ، په همدغه څېر د « اجتماعی نفس » وجود هم دسهار په تور ه خړه چه له خوب نه پاڅی په یوه جامه ، چه دلمر په وړا نګو ئې ستر ګی ولګیږی نو په بل لباس کښې ښکاری ، دغرمې اوماسپښین له جامو څخه ئې دقوت او خوشحالۍ علامې له ورایه ښکاری ، مګر د ماز دیګر په وخت کښې ئې بیا بڼه بدلیږی ، ماښام ئې ستر ګې له خوبه درنې شی څو چه ماسخوتن کېږی ده بیاد خوب څپو کښې دخپل وجود کشتۍ خوشې کړې او ګنګس و یده وی .

یونانیان زر کاله پخوا له میلاده وینې شوی و ـ پنځه سوه کاله پخوا له مسیح نه ئې دعظمت اوجلال نوم په د رسته نړۍ خپور ؤ خو کوم وخت چه دعیسی (ع) زمانه راغله دوی ته هم خوب ورغی او له ابدی خوبو نو سره دابدیت په بستر غاړه غړۍ څملاستل .

عرب درې سوه کاله پخوا له اسلام نه میدان ته راووتل ... او په هماغه زمانه کښې دوی دخپل شخصی وجود احساس و کړ ـ ترڅو چه د اسلام پیغمبر صلعم مبعوث شو ، سپیڅلی هستی منځ ته راغله او مقدس طوفان غوندې ئې هغه شیان فنا کړل چه دده په مخ کښې بندېږو نه اور کاوتو نه غورځول ، عباسیان په هغه هزار پا یه تخت کښېناستل چه

یوه پښه‌ئې په هندوستان او بله په اندلس کښې وه ، خو کوم وخت چه‌ددوی دترقۍ لمر په لوېدو شو اومغولی قومونه ښکاره شول نرمشرق نه ترمغرب پورې ټول پر کاله‌شول مګر داخوب دروند نه‌دی. محض ستر که خوږوی او زه باورلرم چه دوی بیا وینېږی او هغه قوتونه به څرګند کړی کوم چه دوی کښې مخفی پراته دی . او درد یانو دایطالوی تحریك زمانې غوندې چه درنسانس په نامه بیا ژوندی شوه ، او په وینس ، فلورانس او میلان کښې بیا خپل هغه واجبات چه دتوتونی قبایلو له پرغلونو څخه ئې بخوا شروع کړی و تکمیل کړی .

په تاریخ کښې چه‌څومره قومونه میندل کېږی ، فرانسیسیان ترټولوعجیب اونا اشنا قوم دی ، دوه زره کاله کېږی چه دوی میدان ته راغلی ، خوتر اوسه پورې دوی دځوانۍ په شپږازه او رنګینه ورځو شپو کښې قدم وهی . دې ولس کښې نن هم دفکر قوت . دنظر تیزی اودعلم اوفن هغه وسعت موجوددی چه‌په تاریخی دورو کښې ددوی دکمال پانګه ګڼل کیدله . مبالغه به نه وی که وویل شی چه په همدغه خصوصیاتو دوی دېرې ترقۍ وکړې او کوی یې . فردوان - کاریر - شتیا هوګو - رنان - راسد-سیمونی اوبرسېره پردوی دفرانسیسیانودنولسمې پېړۍ دکمال خاوندان دعلم فن‌اوخیال په لحاظ دنړۍ به لویوشخصیتونو باندې فوقیت لری .

مونږ دلته یوه خبره بله‌هم ثابته کړه چه‌دځینی ولسونوعمر نسبت بعضی قومونونه‌اوزد وی، مثلاً مصریان درې زره کاله ژوندی‌ؤ خوبر خلاف ددوی‌یونانیان له‌زرو کلونو څخه زیات ژوندی پاته نشول ،دقومونو دعمر ددېر والی او لږ توب اسباب هماغه‌دی کوم‌چه دافرادو دعمر په لنډوالی یااوزد والی کښې پدلاری .لیکن دژوندون‌په ستېج باندی دخپل پارټ له ختمولونه وروسته په‌قوم باندې څه تېرېږی ؟

آیاهغه (قوم) خپل راتلونکی نسل ته بېله خپل یادڅخه نور هیڅ هم نه‌پرېږدی او مړ کېږی ؟

آیا هغه دزمانی په منګولو کښې داسې بخوداو مرودل کېږی‌چه ګوندی بیخی نه‌د ه‌پیداشوی ؟

زه عقیده لرم چه معنوی وجودمتغیر کیدای شی خوفنا کیدلی نه‌شی . مادی وجود

غوندی له یوه شکل نه بل - اوله یوی بڼې څخه بله بڼه غوره کوی .خوفطری ذرات ئی دزمانی په لمن پورې کلك نښتی وی ؟

نو بنا پردې دیوه قوم اجتماعی نفس خامخا ویده کېږی، مګر د کو کیو غوندی خپله سټه په ځمکه کښی ټینګوی او روح ئی دعالم ابد خواته پورته کېږی .

زما په خیال قوم وی او که ګل . دهغوی روح - وږمه - یواځی حقیقت او مطلق جوهر دی !

دشیب ، بابل، اتن، نینوا ،او بغداد روح زمونږ دځمکی خواوشا دایتر (*) په پرده کښی څه بلکه زمونږ دروح په اعماقو کښې موجود دی . او مونږ په انفرادی او اجتماعی توګه دهغو قومونو میراث یوچه دځمکی په مخ څر ګند شوی دی خودا مقدس میراث ترهغه پورې منفرداً یامجتمعاً محسوس صورت نشی اختیار ولی ترڅو داسې یو ولس پیدا نه شی چه ټول افراد او ټولنې خپل ځانته جذب کړی اوپه دې وسیله یو عمومی اجتماعی نفس تشکیل شی چه ځانته اراده او خاص ژوندو لری .

(*) ایتر : - دهوا لوړه طبقه ده ځنی سیانس پوهان وائی چه له ایتر څخه پورته دهوا بله طبقه نشته خوداخبره لاندده سپینه شوی (مترجم)

پخوانی پښتانه

ښاغلی م. ننګرهاری

علیم ملك

دمو مندو په «دره» نومې ځای کښې چه یوه سرسبزه، شادابه او داوبو ډکه دره ده تخمیناً اویا، اتیا کاله پخوا په یوه کورنۍ کښې د «علیم» په نامه یو طفل وزیږید، داطفل په ډیر وړو کوالۍ کښې یو حساس، جسور، اوډیر خبرلوڅ وو، په ډیر وړو کوالی کښې به دی دمشرانو مرکو اوجرګو ته تلواود هغوی سوال جواب ته به ځیروو.

په دې ماشوم کښې دحاضرجوابۍ اوجلبوونکو خبرو ډیرقوی استعداد موجود و. اوچاچه به دی ولید نو هغه به پرې په آینده زمانه کښې دیو جرار او خوله ور سړی ټك کاوه.

په ده باندی لا په کچه ماشومتیا کښې دپرنګیانو سره دغزا اوجهاد خبرې اونکلونه ډیرښه لګیده اوپه خورا دقت اوجذبه به ئی اوریدل د امینه اواحساس دده دځلمیتوب سره سم درشد اونضج مرحلې ته واردشو اوهمدې شوق مجبور کړلو چه ډیر، ډیر دانګلیس دجنګ په میدان کښې دیو میړنی مومند غوندې پافشار اوثابت قدم پاتی شی.

دده دجهاد مفرطې مینی او دخبر لوڅۍ او خوله ورۍ قوی استعداد قوم جلب اودېته ئې ملتفت کړو چه دهر بیرونی قوت مفاهمی اودپښتنو دغیرمومند قبیلو په جرګو کښې ئې دیو محبوب اومحترم وکیل په حیث دقام دښی، بدی متولی او سرپرست کړی.

کله چه دمومندو اواستعماریونو ترمنځ جنګ اوجګړی کلکې شوې اوداستعماری اواجباری قوت دبین المللی مقرراتو اومناشیرو په ضد دغازونو اوخطرناکو بمباریو په وسیله دمومندودوطن تخریب ته لاس ورته کړو هغه وخت مومندو دافغانستان حکومت ته دپرنګیانو ددې وحشیانه اقداماتونه دیومشرورور اوسرپرست په حیث شکایت وکړو او دافغانستان دهغه وخت خارجه وزیر مومندو سره دجرګې اومفاهمې کولو دپاره دننګرهار دولایت «ډکی» ته ورغی او دعلیم ملك خوږه جرګه اوهوښیاری خبری ئی چه واوریدی نوډیرخوشحاله اومتأثر شو اودده دمعنویاتو، احساساتو او پوهی دستایلونه علاوه ئې په کافی اندازه مادی اومالی نوازش هم ورکړ اووئی نمانځه.

هغه وخت چه د «ناکی» دجګړی روغه کېده او دمحکوم پښتونستان انګریزی ګورنر دمومندوسره دتړون دپاره (ګندا و) ته راغلی وو وائی چه علیم ملك داسی په خبرو اترو او سوال وجواب کښې راواخیست لکه یووړوکی ماشوم.

علیم ملك دانګریزانو ګورنر ته داسی ملی غرور او قومی افتخار څرګند کړ چه دانګریزانو داستعمار دپاره ترتیب شوې توپ او توپخانه ئې له یاده ووتله.

علیم ملك به چه کله دلښکر په مخ کښې ودرېداو په خپل پرجوشه تقریر به ئی پیل وکړنو دهرقسم سنګدل انسان زړه به ئی دمومو غوندې نرماوه اوژړولو ته به ئې اړ کاوه.

دده په شکل او قیافه کښې د خداپرستۍ او دینداری اثار دپښتونوالی دنښوسره سم ځلیدل اودیوزاړه، غیرتی اواخلاقی پښتون تسل پری کېده داسپیڅلی پښتون مجاهد تقریباً ۷-۸ کاله پخوا دجمعی په مبارکه ورځ چه دلوی اختر ورځ هم وه دپاك خدای (ج) رحمت ته وصل شواوددې پریشان جهان ګیرودار نه ئی سترګی پټی کړی ددی مرحوم په کور کښې اوس دده پوښاغلی ځوی شته چه خیرجان ملك نومیږی اوقام دپلار په ځای ده ته پټګی تړلی دی خیرجان ملك دخپل پلار په لاره ټینګ روان دی اونن زمان دپښتونستان په قضیه کښې دانګریز درشید خلف پاکستان سره دقام دحقوقو داسترداد دپاره مجادلی ته مضبوط او کلك ولاړ دی.

ښاغلی دردمند

دزندگی صحنې ته دحضرت انسان صاحب راتګ
اودحیاتی مراتبو طی کولو په لار کښی دځنګدن
په سلګیو دژوندون سره وداع

اې عاجز انسانه دحیات سره آشنا نه شوې

هغه وخت که یاد چه بی ژړل دې څه زده نه و،
پروت وې اومې غوښې پېژاندل دې څه زده نه و،
بی له مور دتی نه نور خو ړل دې څه زده نه و،
دومره وې ضعیف چه مچ شړل دې څه زده نه و،
راغلې له عدمه دحیات سره آشنا نه وې
اې عاجز انسانه پوه پخپل وجود او سانه وې

❀ ❀ ❀

ته وې نا آشنا ددې دنیا دزحمتو څخه
یو موټی وجود وی ناخبر دحرکتو څخه
پروت وې په ځانګو کښې خبر نوې خدمتو څخه
خلاص وې دآرزو دغاښېرو او همتو څخه
مور به اویولې خپله غېږ کښې په نازو سره
تا ته ئې ویل ګرانه بچیه په پېرزو سره

❀ ❀ ❀

څیرې دې ورونی کړ تا غوښتله آزادی دژوند
هم په تبسم کښې در معلومه شوه ښادی دژوند
ودې پېژاندله دمور غېږ کښې آبادی دژوند
ته خندا ژړا کښې آموخته شوې په تادی دژوند
مور به ځنګولې په ځانګو کښې په جان جان للو
لږ غوندې ویده شه اې بچیه په ما ګران للو

❀ ❀ ❀

څو روځې شوې تېرې ګرزېدلو ته دې زړه وشو
سم کیناستی نشوې څو کتلو ته دې زړه وشو
لږ چه دخاړ پوڅو شوې وتلو ته دې زړه وشو
ستا کوچنی خبرې ګړېدلو ته دې زړه وشو
پوه په نظافت اوپه پاکوالی دخپل ځان نوی
ته کوچنی ماشوم خبر په ډول دجهان نوی
ستا خبرې پټې تبسم اوپه ژړا کښې وی
ته به دخپل ځان سره لګیا بېله وینا کښې وی
یو روح اوسا دخوشحالی په دې وینا کښې وی
ای دسترګو توره یوامیند دژوند فضا کښې وی
پاك وې له ګناه نه که خچن وې په ظاهره ته
خلاص داند ښنو اود غمونو دتا ئیره ته

❀ ❀ ❀

لږ غوندې چه لوی اودپرتوګ داغوستلو شوې
ووتې له کوره دکو څو دګر ځېدلو شوې
لوبی دې کولې دخپل نوم دپېژاندلو شوې
دلته دسبق اود تعلیم او درس لو ستلو شوې
وویل پوهانو ځان آشنا کړه دکتاب سره
پوه زد کول وې یوڅو روځی په حساب سره
ولوله کتاب کښې دضمیر او د وجدان سبق
ټینګه عقیده ایمان ساتل اود قرآن سبق
ذهن کړه روښانه لوی شې لوله دآسمان سبق
ژوند به دې نصیب شی که دې ولوست دایمان سبق
بله کړه دماغ کښې د پوهنې او تعلیم رڼا
وپېژ نه دلته دصراط المستقیم رڼا

❀ ❀ ❀

عقل احساسات او نیك عمل گڼه دولت دځان ښه خو ږه دوستی حسن اخلاق گڼه زینت دځان
پوه او شعور او بصیرت بوله قیمت دځان عدل پېژاندل هنر کمال بوله پیشرفت دځان
دغه ده صحنه دزندگۍ کوه روزگار پکښی
پاکو آرزو گانو امیدو نه انتظار پکښی

دلته ځلمیتوب اود ځوانۍ نوی خیالو نه دی گرم احساسات مظاهرې او بیل ډولونه دی
ځینی شی مجنون اوخوك قارون ډیرئې مالونه دی بر خه دقسمت دلته ښکاره او عملو نه دی
ځینو سر نوشت وی پېژندلی فیصلې کوی
ځینی په منبر باندې ولاړ وی مسئلې کوی

❀ ❀ ❀

خوك قلندران شی ځی دحسن په دیدن پسې ځینی وی روان په تظاهر اوپه فیشن پسې
ځینی طالبان شی وی روان په علمو فن پسې خوك درومی بېدیاته ځینی ځی په تمدن پسې
دلته دافراط اود تفریط قصه معلومه شی
ځینی کړی دعوه داقتدار بله محکومه شی

یو خبری گریوان چاودې پښې وی مزدوری کوی بل چاړه پهلاس کښی انسان وژنی خونخواری کوی
ځینی سلامی بل ته ولاړ وی نوکری کوی چا کچکول پهلاس کښی درپه درگرځی زاری کوی
کله مرور کله پخلا وی دخپلوا نو سره
کله کړی جنگ توره پهلاس له دښمنانو سره

❀ ❀ ❀

کله دښکلو دیدن غواړی ټول جهان خرڅوی ځینی نشه وی پهشرابو دین ایمان خرڅوی
ځینی نیستی وهلی ژاړی ځان ارزان خر څوی چالویه لار غلاته نیولی وی کاروان خر څوی
ځینو توپك په لاس اخیستی وی ښکارو نه کوی
خوك دجنت په امیند پټ کښینی ذکرونه کوی

تللی کاروانو نه ستا منزل ته انتظار اری وروسته د ژوند تېږی هم امید تا ته د کار اری
ډیرې ستر گې تا ته منتظرې د روزگار اری ښځه لور او ځوی په خدمتو ستا افتخار اری
وائی سپین ویښته افسوس چه تیر شو د ځوانۍ بهار
گډه زلزله شو له په زړه لاړه فانی بهار

❀ ❀ ❀

فاښ مات شی په جنگ کښی په ډو ډۍ خوله خوځیدی نشی
کوڼ شی په غو ږونو خوار خبرې اوریدی نشی
خاندی ماشو مان وائی کاکا اوس څه لیدی نشی
ستر گې شی کمزوری ملا کښه سم ودریدی نشی
تبه سر در دی قلنج زکام ورسره ملگری شی
مرگ ورته ولاړ او ځنگدن ورسره خبری شی

(پاتی په ۱۱ مخ کښی)

❀ ❀ ❀

مرحوم والاحضرت سردار احمد شاه خان د جازي د تشییع له مراسمو څخه



د مرحوم والاحضرت احمد شاه خان جنازه پس له هغه چه ددوی دجنازي لمونځ د عید گاه
په جماعت کښې وشو


پښتو ادب

ښاغلی ع- بختانی

گلاب غوندی

زما دستر گونه ځی اوښکې دسیلاب غوندې
لاس نیوی وکړه که نه زه شومه غرقاب غوندې

دغه وریځ نه ده دالو گې زما دزړه جگ شوی
ننه گو گل کښې مې زړ گی شوی کباب غوندې

باران دلطف وکرم وکړه تشنه لبو باندې
په غریبانو سوری واچوه سحاب غوندې

زما دزړه آرامه مخ دې راښکاره کړه یو ځل
سارا کښې نشته مضطرب یمه سیماب غوندې

په مدرسه دنزاکت کښې دې درسونه لوستی
دلطافت په آسمان ښکارې دمهتاب غوندې

کله شوخی، کله مستی، کله نازونه کوې
کله خوله پټه، کله خاندې دگلاب غوندې

زه ستا دمخ په صحیفه باندې قسم کومه
چه کړم کتنه ستا دحسن دکتاب غوندې

هیڅ به وانه ړومه ستر گې ښکلی مخه ځنی
خلك ئی گناه بولی اوماته دی ثواب غوندې

په تصور ستا دسرو شونډو دشربت ومه زه
خونا کامی کښې دفرقت شومه بیتاب غوندې

په کوم ساعت چه ننداره ستا دجمال کومه
دتفکر په دنیا جوړ شی انقلاب غوندې

په انقلاب د حوا دثو امو خته دې کړمه
ځکه چه وصل هم راپیښ شی اضطراب غوندې

(د ۱۰ مخ پاتی)

دلته د ژوندون سره وداع کوی مزار ته ځی
غواړی په سلگو کښې رخصتونه بل دیار ته ځی

کور کهول ترې پاتې خالی لاس نوی بازار ته ځی
مړتن په کفن کښې جنازه ئې نوی ښار ته ځی

دغه زندگی وه دبر ښنا په ډول تېره شوه
وگوره انسانه نتیجه در ته بر سېره شوه

ټول خپلوان دې ژاړی مبارك دې شه مړېستون نوی
تورو خاورو لاندې نوی کور کوه ژوندون نوی

هلته کړه ښکاره دنیك عمل وړی مضمون نوی
روح او جسم وکړله وداع راغی بیلتون نوی

پاك وی شهیدان حورې ور سره دخدای دیدار له ځی
څوك چه گناه گار وی لاس تړلی سره انگار له ځی

❀ ❀ ❀

دغه دی ژوندون چه ئې دعوه حضرت انسان کړی
تېر شو لکه با دیوه دوره ئې په جهان کړی

هغه بختور دی چه عمل ئی په قرآن کړی
دغه دی حیات چه ما درد مند ئی لنږ بیان کړی

نوم دمحمد (ص) به یاد ومه آخرت ته ځم
شکر مسلمان یم پس له مرگه به جنت ته ځم

ښاغلی نقیب الله «نقیب»

دشاعر خاطرات

دشاعر دسوی زړه تاوده آهونه — ډیر تاوده لری په زړه کښی احساسات
دژوندون دکرشمو په نندارتون کښی — افلاطون نه ئی پاخه دی ادراکات!
دتېر شوؤ پښتنو له کار نامونه — قام ټبر لره ئی راوړی دی سوغات
گوندی داویده پښتون له خوبه ویښ کړی — سرنوشت ځانته معلوم کړی دحیات
کله ژاړی اوس حالت د پښتنو ته
کله ځیر ځیر نگران وی تاریخو ته

کله یاده دمحمود شهنشاهی کړی — کله ښئی دخوشحال دتوری شرنگ
کله لاړشی دمیوند نه حکایت کړی — کله وائی سرگذشتی د فرنگ
کله نوی ساز را واخلی د ملالی — کله ښئی مکناټن په وینو رنگ
کله یاد داحمد شاتیر سلطنت کړی — کله ستائی دنادرغازی غورزنگ
تاثیرناک آواز ته غوږ کیده مدهوشه
دا ناری وهی شاعر دزړه له جوشه

چه یودوه فکرونه یوشی په یو کار کښی — په یودرنگ دستر گورپ کښی سعادت دی
چه ملی قومی جذبه په حرکت شی — په نصیب کښی ورته ښکلی برائت دی
دنفاق بلا چه راشی په یو قوم کښی — سراسر ورته کوهی دهلاکت دی
که دژوندله خوندنه خوند دچاغرض وی — پټ مضمر په عداوت کښی ندامت دی
ټول راټول ښی پښتنی جذبه ښکاره کړی
په ملی وحدت دښمن کور خرابه کړی

له آمو تراټک ستا حکمرانی وه — حساب راکړه دا نو ولی درنه لاړه
د ډیلی په سر به ستا بیرغ ولاړ ؤ — وشرمیږه لږ نومرگ له خدایه وغواړه
خله بل دپاره ځان وژنی کشمیر کښی — دپلار مېنه ولی شوه در ځنی شاړه
خوخپل کور خوخپل وطن ځانته جوړ نکړی — خوار به گرځی در پدر پړی په غاړه
استعداد اولوی قوت لری پښتونه
رب دپاره مخ په جمعه کړی راستونه

فطرتی استعداد صرف که دقام غم کښی — قام روان که دژوندون په سمه لاره
بیاشیر شاغوندی راجگ شه همایون ته — دښمنان که دمنصور غوندی په داره
حیدری اواز بیاپورته که خیبر کښی — پښتنی جذبی نه زرشه واخله کاره
ای دپاک مرام خاونده په ایشیا کښی — مستقل حکومت جوړ که قام دپاره
دیوی کړی ژوندون په شرافت کښی
ډیر بهتر دی له کلونه په ذلت کښی

پېغله مستوره

دپښتنی پېغلی ژړا

خدایه زړه مې دی له درده نا قراره
شفا را کړی ای شافی پرور د ګاره

چه پښتون ورور مې غلام د بل غلام دی
زه له دې بی ننګه ژونده یم بیزاره

دناموس پګړۍ ئې و لویده له سره
د غلام په غلامۍ شو بی وقاره

دبې ننګه ورور په حال مدام ژړ ېږمه
په قطار شومه د جونو خدایه خواره

چه ژوندون دسر لوړۍ کولی نه شم
مرګ بهتر له داسې ژونده دی خو واره

دا چه هر ساعت ژړ یګمه له غمه
کاشکې مړه شوې چه بیغمه شوې قلاره

ای پښتونه ته با د شاه د آزاد ئې وی
بی ننګئی خپلی کړی داسی خوار وزاره

په اور وسوم زړه می و کړلې تناکی
مړ به کله شې زما د زړه انګاره

چه په سپینه زېره بند فخر افغان دی
د غلیم په وینو سور شو لې ګلزاره

چه را یا دی زندانی شپی د بابا شی
بی اختیاره چیغه کړم له دی نا تاره

ننګیالی او غیرتی ورونه دی څه شو
چه ئی خلاص نکړی بندی عبدالغفاره

غیرتی بابا بندی دی لاس مې مات شه
که په غاړه کې دکړم د ګلو هاره

لوی ارمان مې دزړه و باسې خاونده
چه پښتون دغلیم سر کړی تار په تاره

په غیرت همت پښتون شاهجهان شوې
په میړانی حاصل کړی افتخاره

په ارمان به مې روح لاړ شی له بدنه
که پښتون به یو ځل و وینم نامداره

●●●●●●●●●●●●●●

ښاغلی حفیظ الله «منیر»

دموزې دریاست عضو

لوښی، (ظروف) دکو دیو ټوټې اودخاورې
قسمونه دتاریخی اماکنو په پېژندلو کښې مهم رول لری

دباستانی تهذیب اوتمدن په اکتشافاتو کښی او دحفاری نقطو دتعین دپاره د لوښی ټوټې بالخصوص دخاورینو لوښو ټوټې ډېر اهمیت لری .

په دې معنی چه پخوانی اماکن خصوصا دتاریخ دمخه اماکن دمتوالی قرونو په تېرېدو سره دخاورې په یو، تو ده مبدله شوې ده او اکثراً دهغه له پاتې شوې برخې څخه یو اثر هم نه لیدل کیږی او مځکی سره یو برابر شوی دی ددې دپاره چه دتاریخ دقدامت په نسبت د دا راز اماکنو په مینځ کښې فرق او تمیزو کړی شی. نوعالمان لمړی د کودوړی (تیکر) اولوښو ټوټی په خاورو کښې اټوی، اودآرکیالوجی فن له نقطی نظره څخه په تحقیق اوتدقیق پیل کوی. اوددې ټوټو له مخې ټولې نقطې اوله مینځ نه وتلې، دبشری درهایش قدیمه ودانۍ کشف اومعرفی کیږی ، حفریاتو اوکشفیاتو دپاره زمینه پیدا کیږی مونږ په جرئت سره ویلای شو چه دغه ټوټې دباستان دتمدن او دتاریخ کاشف اونماینده دی ځکه چه دا ټوټې چه په حقیقت کښې دتاریخ نماینده اودقدیمه تهذیب له پاتې شوې برخې څخه دی ورکی اود مځکی پرمخ نه وی نو محققین اوباستان شناسان له مشکلاتو سره مخامخ کیږی. په داسې ځایو کښې آثارلاس ته نه راځی اودتاریخی اماکنو له جملو څخه نه شمېرل کیږی، نوحفریات هم په داسې ځایو کښی معنی نه لری ، کله چه وغواړو دتاریخ دمخه او تاریخی مدنیتونو مراتب، یودبل سره مقایسه کړو په ښه توګه کولای شو چه دکچنیو ټوټو له مخې ښه معلومات لاس ته راولو .

دآرکیولوجی دفن عالمان، دلوښو په ټوټو، نقوشو هیکلونو اوخصوص دکودوړو پارچو ته ډېر اهمیت ورکوی، اویوازې وسیله دتاریخی نقاطو دکشف دپاره چه په لاس کښی ئې لری دغه پارچی دی اوبس .

دغه پارچی دتاریخ ځلیدونکې پاڼی اودقدیمه تهذیب اوتمدن توضیح کوی اودهغه ارتباط نظرو ټولو نقاطو ته مختلف ادوار ور په زړه کوی .

لکه چه تراوسه پورې موپه دې باره کښی ډېر بری موندلی دی، او باستانی مجهول مراتب را معلوم اوښکاره شوی دی .

هغه خاورې اوغونډۍ چه حفر کیږی ، لمړی دسطحی پارچو له مخی تثبیت، اوبیا تطبیق کیږی اودتهذیبی ارتباط په وضوح او نوع کښې ئې ډېر ځیر په کار دی ترڅو چه ټول قسمونه ئې د(پری هستوریك) (بودیست)، (اسلامیك) او .. له نقطه نظره څخه معلوم، اوله هغه نه نتیجه وا خستل شی .

په دې عمل کښې دغه پارچې خارق العاده رول لری، اودباستان دحفاری نقاطو داکتشافاتی فعالیت مصدر ګرځی، اودتاریخ په تکامل کښی ښه کمك، او دراتلونکې دمشی په خط هم رڼا غور ځوی .

اوهم دخاورې پنډې اونری طبقی چه په مختلفو شکلو دباستانی نقاطو دحفریاتو په جریان کښې لیدل کیږی په واضح صورت سره دپخوانیو عصرو نماینده ګی کوی چه دآرکیالوجست په نظر کښې هره طبقه ئې عجیبه کیف لری ، اومونږ ته ښائی چه تاریخی اماکن، سطحی مکشوفه پارچې اودخاورې طبقاطو اوانواعو ته په سرسری سترګه ونه ګورو اوبی اهمیت ئې ونه بولو، بلکه بایده دی چه هریوه کچنۍ پارچې ته ئې دقدر په نظرو ګورو اودهغه له مخې دقدیمې دنیا دتهذیب او تمدن دتصریح

مراتب دښه استقبال دپاره انتظارو کاږو ، خصوصا دآریانا دصفحاتو باستانی پارچې که یوه ټوټه کودی وی هم دقدر وړ دی، ځکه چه دآریانا په ټولو ځایو کښې دتاریخی اودتاریخ د مخه اماکن په کثرت سره پیدا کیږی، او دآثارو له مخی دپخوانیو انسانانو دچګونګۍ په باب کښې مثبتې نتیجې اخیستلای شو .

اوډېر دشکر ځای دی چه دا رشته زمونږ په مملکت کې ښه رنګ پیدا کړی او په دې ورستنیو وختو کښې پرله پسې فعالیتونه دباستانی تاریخ دتوضیح او دآثارو د کشف په باره کښې دمملکت په هر ګوټ کې لیدل کیږی :

همدا رازهغه حفریاتونه چه د۱۹۳۶ع په کال کښې دموسیو ګرشمن اوموسیو هاکن له خوا دنادعلی دسرخ داغ په غوندۍ (قدیم زرنج) اونورو ځایو کښې اوپه ۱۳۲۸ ، ۲۹ ، ۳۰ش کالو کښې د موسیو شلمبرژه اوموسیو کزل دهیرمند او ارغنداب په حوزو اوپه بلخ کښې اوهمدارنګه د۱۳۲۹ کال په جریان کې د (والتر،اې، فیر سروی) او (لوئی دوپری) او افغانی هیئتو له خوا په اراکوزیا اوافغانی سیستان کښې وشول پورتنۍ نظریوته ئې تائید، اودآریانا په قدیمی مدنیتو باندې رڼا اچوی . (دبلخ حفریات د ۲۸ کال نه دمخه وو).

دا فعالیتونه له مثبتو نتائجو څخه عاری نه وو، اولکه چه پورته وویل شوله کچنی خاورینو پارچو اونورو آثارو څخه ښه نتیجه لاس ته راغلی د ه ، اودسطحی پارچو دنمایندګی په اثر ډېر شواهد دتاریخی اودتاریخ دمخه له اماکنو څخه ظاهر شوی دی چه د(کلکولیتیك) او (یانه اولی تیك) دوره اونور را په یاده وی اودآریانا په تاریخ کښې ئې دافتخار وړ خدمت کړی دی .

په دې ځای کښې دخاورې اودکودی درول له ایضاح څخه صرف نظر کوو، او یوازی د۱۳۲۹ش کال (پری هستوریك) مکشوفه غونډۍ اوخاورې ئې چه دبارانی غونډۍ په نوم یادیږی په لاندې کرښو کښې دنمونې په ډول مثال راوړو چه ګران لوستونکی ئې په لنږه شرحه ډېر فکر وکړی :

بارانی غونډۍ ، ددې غوندی خاورې دقرونو په انقضأ سره خپل شکل او بڼه بیخی بدله کړې ده ددې غوندۍ دتاریخ دمخه مراتب د خاوری له انواعو اوطبقاتو اوکودیو له مخې کشف او تثبیت شوی دی. اودافغانستان دلمړنیو (پری هستوریکو) اماکنو په لړ کښې محسوب شوه، دغه غوندۍ دقندهار په جنوب غرب کې د (مارغره) په شمالی خوا کښې دترنګ اوارغنداب (ماشور) ته نژدې پیدا شوې ده .

ددې غوندۍ له حفریاتو نه پرته دکودیو له پارچو، مختلفو خاورو اولنږ څه زاړه دیوالونو اوڅه سکارو اوډبرې څخه نورشی پیدا نشول .

لمړنۍ وسیله یوازې دغوندۍ دکشف دپاره دکودیو ټوټې وی اوبس ، پس له هغه دخاورې انواع اودسنداج دمینځ مکشوفه دیوالونو دهغه دتاریخ دمخه ارتباط تائید او تثبیت کړ ، چه په حقیقت کښې یوه رڼا ده چه دتاریخ په روښنائی ډېرېده داغوندۍ اود (ده مراسۍ غوندۍ) داراکوزیا تهذیبی ټینګ تعلقات ئې ټولو نقاطو سره ثابت کړل .

په بارانی غوندۍ دخاورې طبقات یوپربل باندې په مرور سره تیتې شوی اومختلف قسمونه ئې تشکیل کړی دی .

داطبقې اودخاورې قسمونه ددوه سنداج دحفر په اثرچه دغوندۍ دشرق اوغرب په ګوښو کښې وشو تحقیق شو .

لمړی لمبر سنداج ئې ۱٤ فوټه او (۱۰) انچ ژور حفر شوی او هره ضلع ئې (۱۰ فوته) او (۷) انچ دی .

(۱) لمبر برخه چه په منضمه نقشه کښې ښودل شوی ده بالکل ښوره د ه اوټول ئې سپین لیدل شوی دی .

(٢) لمبر ځای عبارت له مرطوب او میده سکارو څخه دی او لکه کمربند ئې یو خط تشکیل کړی دی.

(٣) لمبر ځای له ښوري او سکارو څخه تشکیل شوی او یو پرخلور ئې سکاره، او نورئې ښوره ده چه (١) دلمبر او (٣) لمبر ښوري په مینځ کښې ډېر فرق لیدل شوی دی.

(٤) لمبر پاتې شوی زاړه د ډوا لونه دی چه ددې دیوالو خاورې خپل جنسیت ساتلی دی او دنورو موادو له اختلاط نه پاتې شوې دی، اما یو رتنی نقطه ئې له کښتنی نقطې څخه لږ فرق لري چه هغه هم درطوبت په واسطه دی.

په اکثر احتمالات سره دا دول د یوالونه یو دبل سره معاصر دی.

(٥) لمبر نقطه دجلا آبادانی له پاته شوې برخې څخه ده او دخښت کاری ددیوالونو له نمونو څخه وی، ددې برخو خښت کاری خپل شکل اورنګ تغیر کړی دی، او په ډېر زیار سره ددې خښت کاری تشخیص وشو او دمحققینو پر پلان او پروژه کښې ئې ښه کهمك و کړ.

(٦) لمبر ځای نور دیوا لونه دی چه د خښت کاری له دیوال نه نوی دی لیکن پخپل ذات کښې ډېر زاړه دی.

(٧) لمبر ځای له درې قسمه خاوره (لاکی، سواری، تورې) څخه مرکبه ده او یو یو سکور هم پکښې معلو مېږی.

(٨) لمبر ځای ډېر زوړ دیوال، او بیله خښتو دی، ددې دیوال په مخ کښې مختلف افقی خطونه لکه رګ ایدل شوی دی.

(٩) لمبر نقطه د (٨) لمبر دیوال تسپړی (تهداب) دی او دخښتو علامات لکه دغه خطو نه چه په نقشه کښې ښو دل شوی دی په هغه کښې ښکاره شوی دی.

دا دیوال له تولو مکشوفه دیوالونو څخه زوړ دی.

(١٠) لمبر نقطه تول مرطوبې خاوری دی او یو یو سکور پکښې معلو مېږی.

دغو خاورو ددیوا لو په مینځ کښې ځای نیولی دی، باید وویل شی چه ددیوا لو رنګ تغیر کړی او خښتې ئې دخاورې له مخې تو ضیح شوی دی.

دحفریاتو په مرور سره برسېره پر ذکر شوو دیوالو او خاورو دهرې طبقې له حفر نه په معین عمق یو تعداد (پری هستو ریك) کودی لاس ته راغلی دی چه په نتیجه کښې داشیان دغو نډۍ دتاریخ دمخه مراتب تثبیت کړی دی.

له دې ځایه څخه ده چه دکو دیو تو تې او دخاورې قسمونه او ... دتاریخی اماکن په پېژندلو کښې بارز رول لو بوی.

دا وو دکودی او خاورې او دنورو شیانو رول چه دتاریخی اماکنو او نقاطو دکشف په مورد کښې په پورتنیو کرښو کښې وښودل شو. نورنو په دغه قدر اکتفاء کوم او دمحترمو فارغینو توجه دمقالې په منضمه نقشه کښې معطو فوم، ښائی چه زیاتره معلومات ترېنه واخلی.



دباراني غوندي لمري لمبرس خداج دشرقي خوا داخلي نقشه
ژور والي (۱۷۸) انچ
ح. منير.

اوسنی پښتانه

ښاغلی غلام حبیب نوابی

میرزا رمضان خروټی

زمونږ ځینی ملګری شوق لری چه دپخوانیو پښتنو په شاو خوا کښی څېړنی وکړی اوڅه شی ولیکی خوزه غواړم چه ځینی اوسنی پښتانه چه سمدستی په درد خوری اودهغوی کارنامی تر او سه پوری په خولو کی اوړی را اوړی او په ټولنه کښی محبوبیت لری پرله پسی ولیکم.

زما په عقیده چه پخوانی پښتانه هېرول او اوسنی میړنی پښتانه، نه یادول ددوی دحق نه سترګی پټول دی.

داسړی چه زه نن دهغه یادونه کوم ښاغلی «میرزا رمضان خروټی» دی، رمضان خروټی اصلاً دغزنی د (قره باغ) دی چه اوس د کندز په چار دره کښی استوګنه لری.

داسړی چه دمرحوم شیر خان زوم دی، دیوه صالح زوی پشان ئی دهغه نامتو اومخور سړی سره اوزه پراوزه خدمت کړیدی، میرزا رمضان، شیرخان سره متحدالفکر اومتفق الرأی وو، (شیرخان ځمونږ دوطن هغه پوه او صادق خدمت ګار دی چه ټول عمرئی ددی مملکت په خدمت کښی صرف کړیدی او بېله خدمت نه ئی په دې هیواد کښی نور مقصد نه درلود!) میرزا رمضان دشیر خان سره په ژوندانه کښی یو لوی مرستیال وو، هغه وخت چه شیر خان ژوندی وو

(مرزا رمضان خان خروټی)

مرزا رمضان دهغه ټول تاریخی، اجتماعی، عرفانی کتابونه خپاره کړه.

مرزا رمضان یو خوش خلق او متواضع پښتون دی.

مرزا رمضان له هرسړی سره ښه ګزاره او ښه معامله کوی، مرزا رمضان ته څښتن تعالی هر شی ور کړیدی او د هغه

دارائی لـکه دځینو بخیلانو نه ساتل کیږی او نه بیځایه ځـی دستر خوان ئی تل تر تله د هرچاو مخ ته اوار دی ؛ تل د غریبانو او بینوایانو سره په پټه خوله او یټ لاس کمك او مرسته کوی .

مرزا رمضان یو علم پا لونکی سړی دی او همیشه خلکو تـه د پـو هـنی او روزنی تشویق کوی ، ښه می په یاد دی چه سبز کـال ئی دیوه کـلی والی ښونځی پخپل ځای کښی خواهش و کړ چه و پـرانیتلی شی او و هغه مکتب ته ئی لمړی ځـل خپل مـز دوران وغوښتل اووئي ویل چه خپل زامن راولی او په دی مکتب کښي ئي داخل کړی ځینې ناپوه مزدورانو ئی مخالفت و کړ چه مونږ خپل زامن په مکتب کی نه پریږدو مرزا صاحب وویل چه اي خلـکو ! تاسی نپوهیږی علم او پوهه ډیره ښه ده هغوی وویل چه مونږ غریب خلك یو دمکتب دباج څخه نشو وتلای !

مرزا رمضان وویل تاسو ته کم تـکلیف نشته معلم او کـتابونه حکومت در کـوی دودی او پوشاکه زه در کوم . ژرشی خپل زامن راولی چه دهغوی وخت بیاضایع کیږی مرزا رمضان په ژوندانه کښی ډیر امتیازات او افتخارات لری اود تولونه مهم د هغه یو خلمی زوی دی چـه محمد صدیق پسرلی نومیږی ؛ مرزا صاحب خپل زوی ښه تربیه کړی دی او هغه ته ئی وخت ور کـړیدی چه خپل معلومات زیات کړی کـتابونه تول کړی ، کـتابخانه جوړه کړی ، په جرایدو اومجلانو کښی اشتراك و کـړی .

مرزا رمضان یو پوه ، صادق او با وقار پښتون دی او لـکه دپخوانو پښتنو خویونه لری مهمان نوازی ، علم دوستی دمرزا رمضان د عاداتو ځینی ده مرزا رمضان یو حساس او متجسس سړی دی ډیره مطالعه کـوی . اجتماعی او تـاریخی کـتـابـو نـه ډیـر لـو لـی او ډیـر کـتا بـو نه لـری ، مرزا رمضان به اوس تخمیناً شپیته کـلن سړی وی - هروخت چه د هغه صحت سالم اومزاج ئي درست وی خپل گران زوی پسرلی ته وائی چه ځینی کـتابونه او اخلاقی شعرونه ورته و وائی مرزا رمضان یو مهربان او با عاطفه سړی دی د پښتنو پریشانه حال تل یادوی او ددوی دبهبودی لارې لټوی .

ښاغلی مرزا رمضان یو خوږ ژبی سړی دی دهرچا سره په نرمی اوملاطفت خبری کوی اوخپل مخاطب په ښه شان سره پوهوی اوقانع کوی ئی . مرزا رمضان دیوه کوچنی هلك خبره که معقوله وی هم منی اوغوږ ورته نیسی د مرزا رمضان له تشدد اوظلم نه ډیر بدراځی ، مرزا رمضان دښه خلکو او د مملکت دحقیقی خدمتگارانو سره علاقه لری اوتل د وطن دخادمانو ستاینه کوی او دچا غیبت نه کـوی او چاته بد نه وائی که څه هم دده سره چابد کړی وی دهغه سره ښه کوی اووائی چه فلانی دې خدای تعالی اصلاح کړی چه په صحیحه لاره سم شی ،

د ښاغلی عزیز الرحمن «سیفی» ترجمه

دچین حکومت

مشهور انگریز سر آرتر مورچه پخوا د استیټسمین نومی اخبار مدیرؤ او په دی ورځو کښې چین ته تللې ؤ هغه وخت چه هندته بیرته راغی نو خپل مشاهدات ئې په دې مضمون هندوستان ټائمیز نومی اخبار ته ورکړل چه دهغو مشاهداتو لنډ مطلب اوغټې غټې خبرې دادی .

سر آرتر په جهاز کښې سپور شو او دفارموسا په څنگ کښې دچین خواته روان ؤ په دغه موقع کښې چه ده په بحر کښې سفر کاوه یو ځل سهار وختی او دوهم ځل ماښام دامریکې یو سیل الوتکې ددوی داوبو دجهاز خواته رانژدی اوراټیټې شوې او ددغه جهاز څخه گیر چاپیره و گرځېدی هر کله چه ددوی په دې خبره پوره باور وشو چه د ادانگریزانو جهاز دی او دبل چاندی نو بیرته په هوا کښې پورته شوې او ولاړی .

سر آرتر پوره یوه میاشت په چین کښې گرځیدلی او کوریا او جاپان ته هم تللی دی دی دچین دنوی حکومت (ای، پبلیک) چارو او اجراآتو ته په ښه سترگه گوری او وائی چه ددوی پلانونه او اقدامات ټول ډیر معقول او پاخه او عملی دی او په دوی کښې سوشلزم او کمیونزم قطعاً نشته دی .

دی دفارموسا په خصوص کښې لیکی چه روس، امریکه او انگلینډ او نور په دې خبره راضی شوی دی چه باید فارموسا بیرته چین ته ورکړیشی له دی کبله سر آرتر هم دانظریه لری چه په چین کښې هر ډول حکومت چه وی باید فارموسا چین ته بیرته ورکړیشی دی داهم لیکی چه ماسره د چین خلکو ډیره مینه او زمائی ډیر خاطر کاوه دریل دسفر په وخت کښې ده داهم په خپلو سترگو ولیدل چه په دغه ریل کښې دریل ټول منصبداران او پولیس ښځې وی او په ټول ریل کښې دیو سرنه تر بله سره پورې فقط یوه درجه وه او دهندوستان دریل غونډې ئې مختلفې درجې نه درلودې ، په ریلوفو کښې لاو ډاسیکیرونه لگیدلی وو .

چه کله کله به ئې خلکو ته سازونه او آوازونه اوبدلی او رولی او کله به ئې راز راز سیاسی او اجتماعی نطقونه او کله به ئې داراز نطقونه اورول چه په هغو کښې به اوریدونکو ته داخبری ښودلې کېدلې چه باید انسان دخپل گاونډی سره په کوم ډول معامله او پیش آمد وکړی په ریلونو کښې باید انسان څنگه کښینی دخپل ځان او د نورو دروغتیا فکر په کوم ډول وکړی دی لیکی چه دچین خلک دټولو خارجی خلکو سره او په خپلو کښې دیو بل سره ډیره ښه او دمینې او دانسانیت نه ډکه گوزاره او معامله کوی په دغه ملک کښې ما ډیر فرانسویان نر او ښځی او دروس او دنورو خارجی ملکونو ډیری ښځې ولیدلې چه ټول دچین دخلکو دپیش آمد او معاملې څخه ډیر خوشحاله وو ، ماددې سفر په دوره کښې یو داسی چینی او یا دبل قام کوم داسی سړی ونه لید چه هغه په جگ آواز دمو جوده حکومت ښه والی نه وی بیان کړی .

په تیرو دیرشو کالو کښې ناڅاپه دشیانو قیمتونه ډیر جگ شول او س دشیانو قیمتونه ټیټ او دکاغذی مسکوکاتو شمیر ډیر لږ شوی دی او په دې کار دچین خلک ډیر خوشحاله دی په چین کښې له ټولو لومړی دعسکر سپاهی په دې خبره پوهول شوی دی چه دی دوطن څوکیدار او خدمت گار دی او مالک او خاوند ئې ندی .

سر آرتر لیکی چه هر کله زما جهاز ټیسن ته ورسید نو په دغه وخت کښې دحکومت هغه منصبداران او مامورین چه په دغه جهاز کښې ئې څه کار درلود دې جهاز ته راوختل او خپل کار ئې په ډیره مینه او ښه وضعیت او ایمانداری اجراء کړ او هر کله چه

هغوی ته ځینو خلکو دچایو پیالـه اویا دخوراك بـل کوم شی وړاندې کړ نو هغوی د دغو شیانو داخستلونه انکار وکړ دجهاز افسرانو ماته وویل چه پخوا به چه کوم یوجهاز چینی بندرته را ورسید نودجهاز درارسیدلو سره سم بـه د چینی حکومت ماموریـن دملخانو په څیر په جـهاز را توی شول اودخلکو څخه به ئې وړ یادخوړلو شیان او شرابونه اخیستل .

ترڅو چه جهاز له دغه بندر څخه نه ؤ روان شوی زموږ دجهاز افسران اونور خلك یوځای ته وغوښتلی شول اوپه دغه ځای کښې دنوی چین په موضوع دجوش نه ډك تقریرونه وشول .

په دغو ورځو کښې په یو - این - او - کښې په دې خبره بحثونه کېدل چه چین حمله کوونکی (ایګریسر) وګڼلی شی او که نه ؟ کوم خبرونه چه په دغه خصوص کښې چین ته را رسیدلی وو خلك ورباندې ډیر خوشحاله وو اوهر کله چه دچین حکومت دچین دخوا دجنګ دبندولو اراده ښکاره کړه نو دخلکو زړونه ډیر خوشحاله شول لیکن دچین حکومت دا وعده پدې شرط کړې وه چه د(۷) لویو طاقتونو کنفرانس چه راغونډ یږی اوټوله معامله به دهغوی په مخ کښې ایښودلی کېږی لیکن هر کله چه آستریلیا اونیوزیلنډ اوفـرانس اوکانادا او انګلینډ داخبره ومنله چه په کوریا کښې چین حمله کوونکی دی نودې خبرې دچین په خلکو کښې ډیره پریشانی پیدا کړه دی لیکی چه دنوی چین دمشرانو او زمام دارانو په ایمانداری او صداقت څوك ګوته نشی ایښودلی اوداځکه چه دوی کلونه کلونه په بټه او کله په ښکاره په سپین میدان کښې دخپل وطن ددښمنانو سره جنګونه کړی دی اوپه خپلو وینوئې خپل وطن دفلاکت اودنورو دغلامی څخه خلاص کړی دی، دی په دې عقیده لری چه دوطن دساتلو او ودانی دادرنه وظیفه بی له دوی څخه بل څوك نشی ترسره کولی ، دچین خلکو ته ددوی صداقت ثابت شوی دی اودچین ملت ددوی شاته ولاړ دی اوهمدغه رازملت داخپله وظیفه ګڼی چه دکوریا دپاره به خپل مالونه اوسرونه قربان کړی .

دچین ملت په خپل ځان اوخپل حکومت اعتماد لری اودوی اوددوی مشرماوتسی تنګ په دې عقیده لری چه دامریکې نیت ښه نه دی ، اودوی په دې هم عقیده لری چه دنوروسره تجارت اومعامله دټولوهغو بدیو څخه ډك دی چه دهغو بدیو څخه چین په خپلو وینو ځان پاك کړی دی ، دوی داده وه کوی چه پاك خدای دی ددوی حکومت دپردیوله بدبویی څخه په خپل امان کښې وساتی دوی داعقیده لری چه (.....) پرته دخپلو جیبونو دډکولو څخه دبل هیڅ شی سره مینه اوعلاقه نه لری دوی (یو - این - او) ته خوشبینه ندی اوله دې کبله دوی دانشی منلی چه هغه دې دچین اویا په بله کومه معامله کښې چه دچین سره ربط لری مداخله وکړی

(له فیأ هند څخه)

یو پیشنهاد

ښاغلی (روهیلی)

د ښځو دنیا

گرانه پوونده !

لمړی دا چه ته د کابل د گرانی مجلې چلوونکی تا کل شوی ئی تا ته باید تبریک ووایم

وروره ! د کابل مجلې ته ټول پښتانه امید و نه لری او داده دی چه تاسې به هغه مفیداو کټور مضامین په خپله مجله کښې مو نیز ته خپروئی چه له هر حیثه داطمینان وړ وی !

لیکن کوم شی چه تر اوسه پورې د کابل مجله کښې لیدل کیږی هغه دادی چه تاسو که په اتفاقی صورت سره نه وی چه کله نا کله مو نشرات، لیدل شوی اما په عمده ډول تاسو د پښتنو ښځو پوهې او بیدارۍ د پاره خپله مجله کښې څه پاڼې د یو څه خپرو نو د پاره نه دی تخصیص کړی، به داسی حال کښې چه د وطن ټولو اخبارونو او مجلو د میرمنو د پوهولو او بیدارولو د پاره ځان ځانته ستونونه خاص کړی او د دوی د پاره مفیدی خپرونی کوی !

نور پښتیا خبره داده چه که د دنیا ژوند مرغۍ شی نو بو وزر به ئی نر او بل وزر به ئی ښځه وی چه دغه مرغۍ په خپلو دواړو وزرو والوتلی شی او که چیرته د دغه مرغۍ یو وزر د کار نه پر بوځی هیڅکله به د ژوند مرغۍ وا نه او تلی شی او که دنیا د یوې گاډۍ مثال و نیسی نو ضرور به ئی یوه ارابه نارینه او بله زنانه وی چه دغه گاډۍ به په د غودوو ارابو سمه روانه وی او که یوه ارابه ئی خرابه وی دا گاډۍ د تګ نه غورځیږی نو په دی حساب تاسو ته ضرور ده چه خپله مجله کښې څو پاڼې د ښځو او میرمنو د بیدارۍ د پاره د یوې رنګینې او ښکلی کلیشې لاندې خاص کړئ چه په دغو پاڼو کښې د ښځو مقالې خبرې کړئ د ښځو او مخصوصاً د پښتنو میرمنو په باب کښې زښته ډېرې خبرې شته چه باید ولیکل شی او امید دی چه په دی لړ کښې پښتانه نارینه لاڅه کوې چه پښتنې تعلیم یافته او پوهې میرمنې د خپلو خویندو د بیدارولو او پوهولو د پاره پوره برخه واخلی او د کابل مجلې د ښځو ستون ته به مضامین در ولیږی نور احترام .

پاینده محمد « روهیلی »

د پښتو لغوی ښېګڼې

پښتو یوه پخه اساسي او پخوانۍ ژبه ده، ددې ژبې په لغوي، ګرامري او ادبي استعداد باندې ډېرې مقالې لیکلې شوې دي، لاکن بیا هم په دې برخه کښې دومره خبرې شته چه که ټول عمر پرې څوك څه ولیکي نو هم به تمامې نشي.

په پښتو کښې دلغاتو زیاتوالي، د مترادفو لغاتو وجود، دیوه مطلب د پاره ډېر هممعنی الفاظ، د پښتو دلغوي استعداد او مزیت یو څرګند دلیل دی، مګر تر ټولو مهمه خبره چه د پښتو په اصالت، قدامت او پوخوالي دلالت کوي؛ هغه دمفردو او بسیطو لغاتو یعنی اصلي او وضعي کلماتو وجود دی نو ځکه غواړو چه په دې کر ښو کښې د پښتو ددغسې لغاتو څېړنه و کړو او دفارسي دلغاتو سره ئې په تله کښې واچوو.

په دې هر څوك پوهیدی شي چه مفرد او بسیط لغت له مرکب او دوه کلمه ئیز لغت څخه غوره او بهتر دی او داساس او بنسټ مثال لري، دلغاتو دجوړښت او اشتقاق په سلسله کښې هغه لغت اصل او موند دی چه مفرد او بسیط وي دلغت اصلي ریښه به ضرور مفرده او دوه حرفي یادرې حرفي وي مفرد لغت دجزء مثال لري او مرکب د «کل»؛ او جزء په وجود کښې له کل څخه د مخه دی.

سربېره پردې، مفرد او بسیط لغات دژبې په لنډیز او اختصار دلالت کوي او مرکب لغات دژبې داوږدوالي نښه ده. دغه شان مفرد او بسیط لغات دوضع او پیدایښت په لحاظ ډېر پخوانی ګڼل کیږي او مرکب لغات وروسته جوړ یږي.

لکه چه ښکاره ده پښتو ژبه په دې برخه کښې هم زیات مزیت لري او ډېر داسې

بسیط لغات پـکښې شته چه په فارسی کـښې هغه درست مرکب او وروسته جوړ شوی دی، دادی وروسته دنمونی په ډول یوڅو مثالونه را وړل کـیږی .

سوی : دالغت دسانسـکریت له (ساسه) سره همشـکل اویو مفرد اوبسیط لغت دی چه مؤنث ئی (سویه) راځی. په فارسی کـښې ورته (خرگـوش) وایـی، دخرگوش له لغت نه داسی معلومیږی چه اول بایدسړی (خر) او دهغه اوږده غوږ و نه لیدلی وی اوپس له هغه نه ئې دغه نوم ایښی وی. په دې نامه کـښې داهم ضروری ده چه سو یه دې له خره نه وروسته پیداشوی وی .

شیشگی : له شکوڼ څخه یو وړوکی حیوان دی، چه په شائې واړه واړه از غی وی. دې شی ته په فارسی کښې (خارپشت) وایی . دانوم پس له هغه جوړ شوی دی چـه دشیشگی په شا چالاس را ښکلی دی او ازغی ئې ورباندی لیدلی دی .

شمشتی : داوبویو سا کښې دی چه دډبری غوندی پلنه شالری،

په فارسی ئی (سنـگ پشت) بولی - دانوم هم یو تر کیبی نوم دی او وروسته جوړ شوی دی .

غوباړی : یو رقم مچ دی چه په غویانو کښېنی او چه غویی وچیچی نو هغه بیامنډی وهی، په پښتو کښی د دی لفظ ریښه دغوی توری دی مگر په فارسی کښې ورته (خرمگس) وایی چه یو مرکب نوم دی او بل بی تناسبه ښکاری .

ټوغی، ټیغکی : دچرگانو دمړینی مرض دی چه په فارسی ئی (مرغ مری) بولی.

وراره : دا کـلمه په فارسی کښی په (فرزندبرادر) ترجمه کیږی .

وریره : دا کـلمه په فارسی کښی په (دختر برادر) ترجمه کیږی،

خوریی : ددې لغت معنی په فارسی کښې (فرزند خواهر) کیدای شی .

ځورځه : ددې لغت معنی په فارسی کښې (دختر خواهر) کیدای شی .

سپی : دا لغت په فارسی کښې په (ماچه سگ) ترجمه کیږی .

خره : دا کـلمه په فارسی کښې په (ماچه خر) ترجمه کیږی .

بیاڼ : دا کـلمه په فارسی کښې په (کرهٔ اسپ) ترجمه کیږی .

نیکه : ددې توری ترجمه په (پدر کلان) سره کیږی،

(پاتی په ۲٤ مخ کښې)

ښاغلی محمد عمر بلبل افغان

ملی صادق څوك دی ؟

ملی صادق هغه پښتون دی چه د پښتنو لوی واړه ټول په دی خبره پوه کاندی :-
چه حریت آزادی ، شجاعت ، ملیت ، ملی غرور ، متحده قومیت ، یعنی ټول پښتانه
په ټوله دنیا کښې هرچرته چه وی ، یوملیت او خپل حکومت به ئی وی - دا شیونه
دپښتون فطرت یعنی طبیعت دی - هرذی روح او غیر ذی روح په خپل طبیعت باندی
روان دی ددوی فطرت دیوبل په نزدیکت نه شی بدلیدی - بعضی اشیاء که بدل چا ته
ښکاره هم شی هغه به بدل نه وی - بلکه خپل اصلی فطرت ته به ئی رجوع کړی وی-
(کل شییء ، یرجع الی اصله) لکه هګۍ چرګه شی ، چرګه هګۍء شی - دانه ونه شی
ونه دانه شی - دهرشی جز په کل کښې دی او کل په جز کښې دی - دا تبدیلی نه
ده بلکه اصلیت دی ، فطرت دی - بل مثال له دی، نه هم قوی دی او هغه دادی :-
چه دچرګی دسینی لاندی دایلۍ هګۍء څوك کیږدی ، هغه بچی شی د جرګوړو
سره یو شان دچرګی دسینی لاندی لویئیږی ، لیکن کوم وخت چه دایلۍ بچی داوبو
ډنډو کی ووینی فوراً وردانګی ، ډانډو کی پکښې وهی ، دا ډانډو کی دا لامبو دایلو

(د ۲۲ مخ پاتی)

ورغومی : ددې توری معنی په فارسی کښې په (بزغالهٔ نر) کیدای شی .
خوسۍ : ددې توری معنی په فارسی کښې (ګاو سالهٔ ماده) راځی .
کټی : دا کلمه په فارسی کښې په (ګاو سالهٔ نر ګاو میش) ترجمه کیږی .
په دې ورستی لغت کښې دپښتو دیوې کلمی معنی په فارسی کښې په پنځو کلمو
سره کیږی چه دا دپښتو دلنډیز او اختصاریو غوره دلیل دی په دې ډول نور هم ډېر
مثالونه او الفاظ شته چه په پښتو کښې مفرد او بسیط او په فارسی کښې مرکب او
اوږده راځی .

دوې دپښتو لغوی ښېګڼی په شاوخوا کښې یو څو خېرې - امید دی چه په دې
موضوع کښې به کوم بل وخت بیا هم څه ولیکو !! (رشتین)

دبچو فطرت دی - داهغه ازلی سبق دی چه الله تعالی په ازل کښې هر ذی روح او غیر ذی روح له ور کړی دی - لکه الله تعالی فرمایلی دی : - سبح اسم ربك الاعلی الذی خلق فسوی والذی قدر فهدی « ثناده هغه خدای لره چه ټول ذی روح او غیر ذی روح ئی پیدا کړل بیائی دهغوی قوتونه او خاصیتونه برابر کړل بیائی دهغی د چلولو طریقه ورته وښودله » ددغه فطرت تاثیر دی چه نن ورځ چه دپښتونستان غږ و شو یعنی (ټول پښتانه په متحده قومیت سره ژوند کول) نوهر چرته پښتانه چه په مخ ددنیادی دزړې دنیا نه نیولی تر نوی دنیا یعنی امریکا پوری - ټول په سر او مال د پښتونستان جوړولو ته تیار شول - او که چرته کوم یو نیم د بدقسمتۍ نه د پردو په ډله کښې پاتی شوی او دهغوی د ټګۍ منترونو بیخوده یا بیخبره کړی وی - نو دهغو پو هول پکار دی !

وائی : - چه دځنګل یو زمری دولې په غاړه ګډی پره کړی وی - څه ګوری چه یو زمری هم دګډو سره سمی منډی وهی !!! دځنګل زمری په تعجب کښې شو - چه دګډو په زمه کښې زمری څنګه منډی وهی - دځنګل زمری زور و لګاوه او هغه زمری ئی دڅټ نه ونیوه او دولې غاړی ته ئی را ووست - او دده سره ئی او بوته ښکته کړو - او خپل سرئی هم ښته کړو ' او ور ته ئی ووی چه خوار شو یه !

ته خو زمری ئی زما عزیز ئی تاڅنګه په ګډو کښې استوګنه اختیار کړه راځه زما سره ځنګل ته څه دا ګډی ځمونږ دخوراك دپاره الله تعالی پیدا کړی دی!

دبل چابیرغ پر ېنږدی په سر باندی ټول راغونډشی دپښتون دبیرغ لاندی
دبیرغ لاندی چه راشی دغیر قام سخته لومه له دی نشته دی نه دام
الهی ته مؤثر کړی دا بیان سوال قبول کړی دعاجز بلبل افغان

له آچکل څخه

د ښاغلی عزیز الرحمن د سیفی ترجمه »

کامیاب ادب او ادیب

په پوهانو کښې دا مثل مشهور دی چه ادب دژوندانه هندا ره ده او دا یو داراز ثابت او مثل شوی حقیقت دی چه هیڅ قسم دلایلو او توضیح ته ضرورت نه لری لیکن په دې خبره عقیده لرل چه ژوندا و دژوندانه دمتعلقاتو دراتولولو او یوځای کولو په اثر کوم یو مصنف کامیاب ادیب کېدلی شی، دیر غلط خیال دی، که څه هم دواقعا تو او نورو موادو په نظم او نثر کښې بیانول او راتولول او یا دادبیت نه پیدا کېدل د کوم یو واعظ او یا د کومې محکمی دیو منشی دپاره ضروری شیان دی، لیکن دغه شیان یو مصنف سره دهغه دادبی مقام په جګ والی کښې کومه مرسته نشی کولی، او دا ځکه چه که واقعات هرڅومره حقیقت نه نژدې وی، او یا هغه په دیر صداقت سره بیان کړیشی مګر سره ددې ټولو خبرو که دغه شیان په یو خپل فنی قالب کښې وانه چولی شی ترهغې وخته پورې دغه شیان خپل ادبی معیار ته نشی رسیدلی.

ددې پورته مطلب څخه دا حقیقت په ښکاره ډول څرګندیږی چه دیو کامیاب ادیب دپاره ددې څوخبرو مراعات دیر ضرور اولازمی شی دی، چه دغه ضروری شیان مونږ په دې لاندې کرښو کښې په تفصیل سره بیانوو.

دیوې منظرې او یا دیو شکل او یا دیوې واقعې لیکل او یا تصویر کول په هغه وخت کښې دحقیقی نظم او یا نثر بڼه پیدا کولی او مقام نیولی شی چه یو ادیب دغه شیان دخپلو تجربو او دفن دخرادی په ماشین خرادی او په یو ښکلی او موزون فنی قالب کښې ئې خلکو ته وړاندی کړی، ددی جمال تفصیل دادی چه دادب او ادیب دپاره برسېره په نورو صلاحیتو نو نکته رسی او حقیقت پسندی او جمالیاتی حس دیر ضروری شیان دی او په هرچا کښې چه دغه شیان هرڅومره دیر ارقوی وی په هم هغه اندازه به هغه قوی او ښه ادیب وی.

حقیقت دا دی چه دیو ادیب دعظمت راز دهغه دزړه اودماغ په هغه قوت کښې یې او مضمر دی چه هغه قوت دا اقتدار و لری چه محسوسات دانفرادیت سره یو ځای دنورو خلکو دزړونو او دماغونو په هشدار

منعکس کړی شي ، او ددی دول عکاسۍ دپاره مشاهدات ډېر ضروری شی دی ، او داځکه چه مشاهدات دواقعي او یا شکل او منظری ټول جزئیات شعور ته وړاندې کوی ، نو په دغه وخت کښې د ادیب شعور دغه ټول جزئیات دځېړنې او تدقیق لاندی نیسی او په دغه وخت کښې دادیب شعور ددې کار کوښښ کوی چه دغه ځېړنې څخه پیدا شوی جذبات دخپل استدلال او قریحی په مرسته ښکلی او ښایسته کړی او دادب په ښکلی قالب کښې ئې ځای کړی ، په کوم وخت کښې چه مشاهده خپل تفصیلات شعور ته وړاندې کړی نو په دغه وخت کښې په طبیعت کښې بودول سکته پېښېږی چه په دغه سکته کښې ادیب دخپل علم او ذوق او تجربې په اندازه کومې نتیجې ته رسېږی چه په دې وخت کښې ادیب مخیله قوت ته ډېره اړه او احتیاج لری .

او دغه قوت ادیب دخپل اقتدار طاقت سره سم ددغو شیانو نتیجې ته رسوی ، په دې لړ کښې داحقیقت باید ښکاره کړېشی چه کټ مټ دیوې واقعې او یا یوشی لیکل هم دادب دپاره کوم جګ او دقدر وړ کار نه دی بلکه دادیب کمال او امتیاز دادی چه واقعه یا یوشی کټ مټ او په تفصیل سره دخپل فنی شعور په قالب کښې وړاندې نه کړی او کوم خلک چه دغه اقتدار نه لری هغوی ته شاعران نه بلکه متشاعران ویل کېږی ، او کامیاب ادیب نه شی ګڼلی دادیب وظیفه داده چه د خپل مضمون څخه ټول بیکاره او غیر ضروری جزئیات وباسی او دخپل ذوق او قریحې په مرسته دخپل زړه او دماغ ټول صلاحیتونه دغې موضوع ته متوجه کړی او دهغو څخه دیوې معقولې نتیجې درا ایستلو نه وروسته دغه خیالات دمحسوساتو په ښکل کښې په فنی دول ولیکی ، په دې لړ کښې باید داحقیقت هم څرګند کړو چه دهر یو لیکوال دپاره دذوق او قریحې زوښانی ستر ګې داسې ضروری دی ، اکه څنګه چه دیو جسم دپاره روح ضروری شی دی او هر لیکوال چه دغه ستر ګی نه لری نو په دغه صورت کښې به ئې مطالعه ناقصه او انفرادیت به ئې مفقود وی ، باید اول لیکوال ، هر شی په خپلو سترګو وګوری او وروسته په خپلو دغو مشاهداتو کښې غور او دقت وکړی او له دې نه وروسته دخپلو مشاهداتو نتیجه دخپل فن په شکلی قالب کښې خلکو ته وړاندې کړی دغه دول لیکوال یو کامیاب لیکوال ګڼلی شی ، لیکن د کامیاب ادیب دپاره یوازی مشاهده هم کافی نه ده بلکه باید دادیب دمشاهدې دقوت سره دا یقان قوت هم ملګری وی ،

او داڅکه چه تر څو دده محسوسات داعتقاد
شکل پیدا نکړی نو دوی په اوریدونکو
پوره تاثیر نشی کولی ، او دا یو منل شوی
حقیقت دی ، چه دانسان خبره په نورو خلکو
په هغه وخت کښې ښه او پوره تاثیر کوی ،
چه دهغې بنیاد په صداقت ولاړوی او دغو
محسوساتو دده په زړه کښې یو تأثر او
هیجانی کیفیت پیدا کړی وی ، او دغې
هیجانی کیفیت دی د دغې مضمون لیکلو
اوقلم پورته کولو ته اړ کړی وی او دا معلومه
خبره ده چه دې حالت ته انسان په هغه وخت
کښې رسیدلی شی ، چه دادیب مشاهده
ذاتی وی او دغې موضوع د ده په زړه
او دماغ پوره تاثیر کړی وی .

دهر یو کامیاب ادیب دپاره دا خبره
لازمه ده چه هر څه چه وګوری او یا ئې
په فکر کښې راشی هغه باید بیان او ښکاره
کړی ، لیکن په دې شرط چه اول دهغو په
شا اوخوا کښې ډیر غور او دقت وکړی او دغور
او دقت نه وروسته کومه نتیجه یا تأثرات
چه ده ته حاصل شوی وی هغه په مرتب ډول
دمحسوساتو په قالب کښې خلکو ته وړاندې
او دهغو په مغزو کښې ځای کړی او باید
ادیب خپل دغه استدلال په داسې صداقت
او انفرادیت پیش کړی چه نور خلک له ده
څخه ډیر زیات په هغو متأثر شی او داڅکه
چه صداقت د کلام روح دی ، او ژوندی
شی او مرو خپل تأثیر کوی ، د کامیاب
او خوږ ادب په خصوص کښې یو پیاوړی
پوه داعقیده او فکر لری ، چه فن دښه ترتیب
نوم دی او حسن دیو مخصوص ترتیب دوهم نوم
دی . او د ګارش او بیان په وخت کښې
یو ادیب جمالیاتی حس ته ډیره اړتیا پیدا
کوی او دی په دې موضوع کښې ډیر زیات
غور او دقت ته اړ کیږی ، چه زما ددې
موضوع او یا مضمون الفاظ او جملې څنګه
دی ؟ ددوی آهنګ په خپلو منځو کښې
سره یو دی او که نه ؟ د دې
جملو الفاظ متناسب دی او که نه ؟
او که شعر وی نو دی باید دا فکر وکړی چه په
بحر کښې ئې ښه الفاظ ځای کړی دی او که
بد ؟ او که نثر وی نو باید دا فکر وکړی چه
زما دمضمون جملو الفاظ د موادو به لحاظ
واضح او خوږ ه دی او که نه او داڅکه چه د
پوهانو په عقیده د الفاظو محفل د انسانانو
دمجلس سره ډیر شباهت لری ، او لکه څنګه
چه دیو ذوق ، یو مسلک یو عمر او یو فکر
دخاوندانو څخه جوړ شوی مجلس ډیر خوږ
او خوندور او کامیاب دی همدغه راز
که په الفاظو کښې همدغه ترتیب دنظر لاندې
ونیولی شی . نو په دې صورت کښې به مضمون
ډیر خوږ او خوندور او ډیری استفادې

وردی په دې لړ کښې باید لیکوال
دې حقیقت ته هم ملتفت اوسی ، چه یواځې
دلفظ او دجملې ښه والی ته اهمیت ورنه کړی ،
بلکه دې خبرې ته اهمیت ورکړی چه که
څه هم دالفظ او یا جمله ډېره ښه او خوږه
او موزونه ده لیکن سره ددې تولو او صافو
داصل مضمون سره ددې تناسب شته او که یه ؟
دمثال یه ډول که دځوانانو یه یو مجلس کښې
چه دوی یه خپل طبیعت یه خبرو اترو او وشتو
تو کو بوخت وی او ناڅاپه دغه مجلس ته یو
ډېر مشر او کوم لوی سړی ورداخل شی ، نو آیا
ددغه مجلس وضعیت په څنګه شی ؟ او
ددغه شخص ورتلل به یه دغه مجلس ښه تاثیر
وکړی او که بد ؟ همدغه راز مثال دیوې ښې
او خوږې جملې همدی چه که دغه جمله
دنورو جملو او الفاظو سره تناسب ونه لری ،
نو نتیجه به ئې ددغه پورته وضعیت په څیر وی
او بس .

ددې پورته مضمون مطلب داشو چه که
څه هم جمله ډېره ښه وی لیکن چه داصل
مضمون سره برابره نه وی نو هغه ښه جمله
مضمون داسې بې خونده کوی ، لکه څنګه
چه د رندانو مجلس دمتقی شخص په ورتګ
بې خونده کېږی او لکه څنګه چه په ښو
او خوږو الفاظو ځینی مضامین او اشعار
بې خونده او مجروح کېږی همدغه راز
دموضوع او الفاظو په بی ربطی او بی ترتیبی
هم مضمون خراب او بې خونده کېږی
دمضمون دخوږوالی دپاره دموضوع او الفاظو
په منځ کښې ربط او ښه ترتیب هم ډېر اهمیت
لری او دترتیب دښه والی دپاره یواځې او
یواځې سلیم ذوق کفایت کوی او بې
دسلیم ذوق نه په بل کوم شی دغه مطلب نشی
ترسره کېدلی سلیم ذوق یو داراز شی دی
چه دغه شی داصولو او قواعدو او مطالعاتو په
ذریعه نشی حاصلیدلی او بې له دې سلیقې څخه
انسان کامیاب ادیب نشی ګڼلی کېدای
که څه هم دیو انسان خیالات ډېر جګ
او عالی دی لیکن ترڅو چه دغه عالی خیالات
دپورته ذکر شو داصولو سره دذوق او سلیقې
په فنی قالب کښې وانه چولی شی هغه کوم
ادبی مقام نشی پیدا کولی ، لیکن په دې
لړ کښې داهم یوه منلې شوې خبره ده چه
دبیان په طرز کښې لکه دنورو پورته ذکر شوو
ملحوظاتو حافظه هم ډېر ضروری شی دی
او دبیان دطرز په کامیابی کښې حافظه
خاص اهمیت لری باید دبیان دطرز د کامیابی
دپاره انسان په خپله حافظه کښې دالفاظو یوه
داسې ذخیره محفوظه وساتی چه دهغې په
مرسته یو ادیب په مناسبو وختو او دضرورت
په وخت کښې موزون او مناسب تشبیهات
او خوږی استعارې په ذهن کښې راولی او په

مناسبو ځایو کښې ئې استعمال کړی شی لیکن سره ددې ټولو خبرو باید یو ادیب دانتخاب دصلاحیت او تخلیقی قوت او ملکی خاوند هم وی چه ددغې تخلیقی قوت په مرسته دموقع او محل او موضوع په لحاظ د موضوع او جذباتو د تناسب سره سم نوې استعارې او نوې تشبیهه ګانی میدان ته راوستلی شی او په دې وسیله خپل مضمون خوږ او خپل مطلب په ښه ډول ښکاره کړی شی .

باید د الفاظو په ترتیب کښې د دې کار مراعات هم وشی چه نه د الفاظو د ترتیب او تشبیهاتو او استعمارو په اثر دمضمون څخه یوه معمی جوړه شی او لوستونکی ور باندې هیڅ یوه نشی او نه دومره آسانه شی چه لوستونکی ددغه ډول مضمون اوستل دخپل فکر توهین وګڼی او ددې مطلب دتر سره کولو دپاره د الفاظو انتخاب ډېر ضروری شی دی، او دا ځکه چه الفاظ داوسپنې او یا لرګی غوندې یوشان او برابر قوت نه لری بلکه د الفاظو قوت او تاثیر د ترتیب او موقع او محل په لحاظ بدلیږی بلکه ځینی یو ان دا مفکوره لری چه الفاظ لکه در باب دتارونو په شان په بېل بېل ځای کښې جلاجلا غږ او تاثیر او آهنګ لری، یو پیاوړی فن کار ادیب دا خبره حس کولی شی چه دمعقولاتو د محسوساتو په شکل کښې دښکاره کولو دپاره کوم کوم الفاظ لازم دی. او په کومو الفاظو او کوم ترتیب دخپل ماحول ترجمانی په ښه ډول کولی شی، او په دې مسئله کښې دعلم نه زیات دفکر طرز ډېر اهمیت لری په کوم وخت کښې چه یو ادیب دبحث دپاره یو موضع ټاکی په دغه وخت کښې فکر د خپل توان سره سم د الفاظو په راټولو پیل کوی، او طبیعت فکر ته غذا ور کوی او په دغه طریقه دفکر کوونکی دقلم څخه د کاغذ په مخ د الفاظو توئیدل شروع کېږی، دمضمون دلیکلو نه وروسته ادیب دخپل ذوق او ضرورت سره سم په اصلاحاتو پیل کوی او دخپل فن وروستنی نمونه خلکو ته وړاندې کوی او دخپل ذوق او تخیل په چوکاټ کښې دننه دخپلو احساساتو ښکلې تابلو ترتیبوی لکه چه په دې موقع کښې لوئس دا نظریه لری چه کله خیال د بیخ حیثیت پیدا کوی او جذبات د ګل او کله کله جذبات د بیخ ځای نیسی او خیال د ګل لنډه دا چه خیال او د تفکر طرز د ادب په فن کښې ډېر زیات ښکاره تاثیر لری .



خندا او ژړا

زمونږ موټر دچغه سرای او جلال آباد په لار کښې دڅوکۍ دسیمې دیو کلي په مخکښې دسړك په غاړه ودرېد. زمونږ خیال داؤ چه گوندي موټر تېزي شوي دي او کوم گیلن او بوته ضرورت لري ولي لږ ساعت وروسته معلومه شوه چه قصه بله و. قصي خو به موډیرې اورېدلي وي ولي چه زمونږ ملك له دغسې قصو څخه ډك دي لاکن د دې قصې لطف او خوند دخندا او ژړا په عنوان کښې دي ښه نو قصه وا وریء !

په دې موټر کښې څوتنه بندیان هم وو ، چه له دې کلي نه جلال آباد ته بیولي شول ، موټر ودرېدو سره سم د کلي له منځ څخه لوی واړه ښځې او نرر او زغلېدل ، دو لاړ موټر په خوا کښې د ژړا چیغې پورته شوي ، چه پوښتنه مو وکړه نو چا وویل چه دا بندیان ددې کلي دي او دخون په معامله کښې نیول شوي دي .

نور نو څه پته و نه لګېده چه دا خون په حقه ؤ او که ناحقه ؟

دا خبره به په ځای پرېږدو - د بندیانو دخپلو خپلوانو یوه ننداره پکار ده - د کلي ښځې دغم په تورو جامو کښې دخپلو بندیانو دلیدو دپاره راغلې ، دچا په مخ د اوښکو بهیر روان ؤ چا په زوره ژړل او چا په پټو شونډو دستر گو په اشارو کښې دغم او خپگان منظره ښودله - دسپین سره بوډۍ گانو له خولو څخه دصبر او تسلۍ ، ډاډ او اطمینان خبرې اورېدل کېدي او د تور وربل میرمنو په پټه خوله خپلو بندیانو ته داوښکو مرغلري سوغات ورکولې - دا کلي دغریبانو ځاله وه ، دچا سره دومره څه نه وو چه خپلو گرانو بندیانو ته ئې دخرڅ دپاره یو څو پیسې ورکړې وای ، یوا ځې د ژړا او دعا زیرمه وه او بس - یوې بوډۍ ښځې ورو ورو دخپل څادر د پلو غوټه را خلاصه

کړه اوڅو پیسی ئی چه له کوموو ختو به ئی ساتلی وې خپل بندی ته ور کړې «چه واخله بچیه په دې پیسو به ځانله نسوار واخلې» دا منظره ساعت په ساعت له خوږ او دردنه ډکېدله، زما سترګی اوزړه دغم په تماشه بوخت ؤ، دبندیانو د ګناه اوجرم فکر مې بیخی له نظره و ووت اوددې تراژدی پردې په نند اره کښې دتصور پـه بله دنیا کښې ډوب لاړم.

په دې منځ کښې چه ګورم چه یوه دنګه لوړه ښایسته ښځه دموټر خواته راو رسیدله دموټر په ناستو کسانو کښې ئې په خپل بندی سترګې ولګېدی.

لومړې ئی په شونډو دنرۍ خندا پرده را خوره شوه اوخپل بندی ته ئې چه غالباً میړه به ئې ؤ؛ په خوږ مسکی توب کښی د ډاډ ګیرنی اوتسلۍ پیغام ورساوه؛ بیائې دموټر په باډۍ تندی ولګاوه اوپه غلی او کلاره ژړا کښی ئې دخپل خپګان پرده نورو ښځو ته وښودله ـ زه چه په دی وخت کښې ددغی میرمنی دخندا اوژړا فلسفی ته متوجه شوم نوددې پر کیفه خندا اوژړا تعبیر او معنی می له ځانه سره داسی و کړه.

خندا دخپل ګران بندی د تسلۍ او اطمینان دپاره وه، ځکه چه پښتنی میرمنی دخپل میړه سره هرغم هر کړ او اوهر تکلیف په خندا، خوشحالۍ اوروڼ تندی تېروی، اوژړا ددې دپاره وه چه دنورو ښځو له پیغور نه ځان خلاصه کړی ولی د ښځو په دنیا کښی دخپګان ښکاره کولو وسیله یواځی ژړا ده او بس.

او که له دې خاص منظری نه سترګی واړ وونو بیاخو دخندا او د ژړا فلسفه یو څرګند حقیقت دی، او هغه دادی چه غم، اوخوشحالی، خپګان اوخوښۍ سره ورونه خویندې دی. دژوندانه در کاټ یومخ دغم سندره اوبل مخ ئې دخوښۍ غزل دی.

دبرېښناخندا اودوریځی ژړا دژوندانه ددغو دواړو اړخو نویو فطری تعبیر دی ـ لاکن دغم په وخت کښی هم خندا اوهم ژړا یوه داسی معمی او داسی تعبیر دی چه یواځی پښتنه میرمن پرې پوهیږی اوبس!!

(رشتین)

●●●●●●●●●●●●●●

دا لیکنه ښاغلی عبدالغفار هاشمی
له مصر څخه راليږلې ده .

پښتون سفیر

نن په هغو پښتنو باندې چه په مصر کښې اوسي ډېره دښادۍ او خوشحالۍ ورځ ده ځکه زمونږ ګران ټولواک خپل سیوری دمصر په پښتنو باندې هم وغوړاوه چه یو پښتون سفیر ئې هلته مقرر کړ چه په پښتو باندې غږیږي او دپښتو په شاوخوا کښې خبرې اترې کوي. اوده په خپله تواضع او کمینې وضعې سره دمصر دپېلمو ماتیانو او دجامع الازهر شریف دوا ړو مشرانو او پښتنو سره ځان ور نژدې کړ .

تراوسه پورې دپښتنو څخه چا دمصر پوښتنه نه وه کړې اوله هغه راهیسې چه پښتانه په مصر کښې موجود شویدي یرته زمونږ له ښاغلی سفیر صاحب عبدالهادی خان (داوی) څخه بل چا پرې زړه سوی نه دی کړی .

په دې عکس کښې ښاغلی عبدالهادی خان داوی په مصر کښې افغانی سفیر او ښاغلی عبدالغفار هاشمی د خبرو په حال کښې لیدل کېږي .

ع ، ج عبدالهادی خان د افغانستان سفیر دیاره په رواق کښې دوا ړو پښتنو سره میلمستیا وشوه نوده له جناب فضیلت مآب شیخ عبدالرحیم کشکی د (بعوث اسلامی) دبرخې له مشر څخه د (جامع الازهر) له پوره حالاتو پوښتنه په پښتو کوله او ترجمه ئې محمد عبدالغفار الهاشمی په عربی کوله او بیائی دجناب شیخ عربی هم په پښتو ترجمه کوله .

پښتنوالی

دا مشهوره ده چه «دپښتون هو ٬هوده او نه ئې نه!» ځینی بدبینان دپښتنو ددې خوی څخه په ضدی توب اوجهل سره تعبیر کوی ٬ لیکن

چشم بداندیش که بر کنده باد عیب نماید هنرش در نظر

داهغه ستایلی اوښاغلی خوی دی چه ټول ژوندی قومونه ددې په اثر ژوند کوی .

ثبات او استقامت

هم ددې عنوان لاندی داخلیږی ٬ولی ثبات او استقامت اکثره دشدائدو او مشکلاتو به مقابل کښې وی. وفادو عدی پوره کول اوپه خپل عزم ټینګیدلو نه وائې دا ټول سره نزدې دی خوځه لږ لږ فرق هم لری .مایوه ورځ دپښتنو په ثبات او استقامت بحث کاوه چه ما ته وویل شوه چه «دپښتنو په حربی روح او جنګیا لیتوب کښې هیڅ شك نشته یو حربی قوم دی ٬لیکن ثبات او استقامت نه لری دا ته د خوش عقیدګی څخه وائې»

ماورته وویل چه «انصاف وکړی په دې عصر کښې چه تقریباً زیاته ایشیا د استعمار سیلاب ویونه او زړه دنیاله یومخه دیورپ په مقابل کښې په سجده پر یوته ٬ مګر دغه دایشیا دمنځ دغرو پښتانه سره دټولو کمزور ټیاوو اوبی وزلی توب د مقتدرو قومو په مقابل کښې مودې مودې دغره په شان ودریدل اوخپل استقلال ئې چا ته ورنه کړ.

آیا داداستقلال استقامت او ثبات مجسمه ٬ نمونه نه ده !»

په دې بیان سره زما حریف قانع شو اونورئې څه ونه ویل ؛دپښتنو داخوی دمملکت دآب وهوا دائر مولود دی ٬مونږ به په دی باب کښې و روسته چیرې بحث وکړو .

ملی غرور

ملی غرور یوډیر شریف حس دی ٬ داحس په هغه ملتو کښې لیده کیږی چه ترقی یافته وی.ولې چه انسان ډومبی منفرد او بوازی ؤ٬ دده حیات هم په بوازی او منفردانه طور سره ؤ هر یوه به ٬علیحده علیحده دخپل ژوند ساتلو دپاره کوشش کاوه مګر هر څومره چه زمانې تیرې شوې دتکامل په قانون سره دانسان په فکر اومغزو کښې هم تطورات او تغیرات

راغلل ،ده کور وپیژاند خپل خپلوان ئې وپیژندل ،هر کله چه داحس ده دخپل تکامل په وخت کښې میندلی دی ، نوهماغه انسان مترقی او متکامل گڼل کیږی چه داحس په کښې قوی او مترقی وی .

مونږ ویلی شو چه دملیت داحس په پښتنو کښې خورا کلك او ښکاره دی تر دې چه په خپل ملیت باندی ناز دپښتون غریزه گرځېدلې ده؛ دمذهبی لحاظ نه پرته یو پښتون په دنیا کښې دځان نه هیڅوك زیات نه بولی بلکه دځان سره ئې برابرهم نه بولی .

سړی ویلی شی چه ددې نورو سجیو په شان داهم ددوی دوطن دلوړو او چټو غرو د استقلال او غرور اثردی چه ددوی په مزاجو کښې فطرتاً اخکلی شوی دی . لکه (ژورژسمیت) دخپل کتاب «انسان» په لسمه صفحه کښې (١) د اسی لیکی :

«هغه طبیعی اثرات چه لوړ غرونه ئې دخپلو اطرافو اونواحیو داوسیدو نکو په روحیاتو کښې لری غیر له هغه مؤثراتو څخه دی چه هواری زمکی ئې دخپلو ساکنینو په روحیاتو کښې پیدا کوی ځکه چه دغرنی مملکت او سپدونکی تل دطبیعت سره په جگړه کښې وی ځکه چه دسپلابونو اوخیروونکو حیواناتو وجود اوهغه مشکلات چه په ژمی کښې دغه خلقو ته رسیږی همیشه دوی ته تهدید ور کوی اوطبیعی ده چه داسی ژوندون نه یوالحی دغرو نودشاؤ خوا داوسپدونکو دبدنونو اوپلو دتقویت سبب گرځی بلکه شجاعت ،مقاومت دفکرسرعت ته هم تقویت ور کوی . هغه بنیادمان چه د غرو په لمنو او اطرافو کښې ژوند کوی ،نوله دې کبله چه دهغوی روزمره تماس غیر له غره نه دنورو طبیعی عناصرو سره هم وی .نوځکه دخدای تعالی (ج) عظمت او صنعت په هغوی کښې زیات نفوذ کوی اودوی دینداری ته مائل کوی . دغرونو خلق معزور او آزاد طبیعته اوسی اوددوی دغرور اوحریت سبب دادی چه له یوی مخې د دوې داستو گنی ځای اکثره داجانبو دظلم نه په امن وی اوله بلی خوا دوی مجبوره وی چه خپل حوائج بې له دې چه دچانه په کښې مرسته و غواړی په خپله ئې پورته کوی .نوپه دې صورت کښې دطبیعت استقلال په ځان اعتماد ، غرور او مناعت په هغو کښې زیږی اوورو ورودز مانې په تیریدلو سره کلکیږی .

---

(١) داکتاب جناب محمدقدیر خان تره کی په فارسی ترجمه کړی دی - دکابل دسالنامې څخه دبناغلی (زمریالی) لیکنه .

دغره په اوسپدونکو خپل وطن اوملت دهر چانه زیات گران وی اودخپل استقلال اوملی حریت دساتلو پهباب په هیڅ قسم فدا کاری صرفه نه کوی او پرته لههغه معنوی قوت څخه چه طبعاً دوی ئی لری ددوی دمملکت سختی لاري او دشوار گذار منازل هم ددوی داستقلال دساتنې دپاره ممد ثابتیږی که ددنیا تاریخ ته و کتل شی له دی قسمه متعدد شواهد زمونږ ستر گوته راځي ! کوم وخت چه روما دروم په اطرافو او جوانبو کښی په فتوحاتو شروع و کړه او مختلف ملل ئي بو یو د تسلط لاندې راوسته نودآلپ بالقان ، کارپات غرونو داوسپدونکو په مقابل کښی ئي پرله پسې فاحش شکستونه وخواړه ،ددی نه پرته هغه جگړې چه د (تیرول) خلقو دخپل حریت اوملی استقلال دحاصلولو دپاره دفرانس سره کړی دی ، یاهغه مدافعې چه دهسپانیی خلقو دناپلیون دمظفر عسکر په مقابل کښې کولې یاهغه جنگونه چه قفقازیانو د روس داستعمار په مقابل کښې کول داتول دهمدغه نه بدلیدونکی طبعی قانون نمونې دی .

زه پهبلچا کښی نهغږیږم زماخبرې دپښتنو دملی غرور دغریزې سره دی: هواپښتانه پهخپل ملیت (پښتنولی) خورا نازان اومغرور دی ،پښتانه پهخپل مزیت پوهوی او که نه ،مگر ډیر اجنبی پوهان اومدققین چهدپښتنو پهژبه او اخلاقو کښی پلټنی او تدقیقات کړی دی دپښتنو داملی مزیت ئي ستایلی دی .

یوخارجی محقق چه د پښتو او پښتنولی دلداده دی لیکی چه « که دیوه خورا بیوزلی اوخ، بربنډ پښتون څخه چه ستامزدور به وی پوښتنه و کړی چه «څوك ئی؟» دی به درته په ډیر غرور او مباهات سره ووائی چه « پښتون یم !!!» چه د ده دلهجې څخه به دملیت غرور او له سیما څخه به ئي د « پښتنولی» علویت ښکاره کیږی او تابه په درانه غږ او خورا متانت اووقار داسې داثر لاندې کړی چه ته به وائی دی بادار او زه نوکر یم »

یوبل ایرانی سیاح او نقاد داسی لیکی «هرپښتون فرد اول ځان او بیا خپل قام د خدای برگزیده گڼی او دمځکې په مخ هیڅوك دیو پښتون په برابر نه بولی (۱)

(۱) ستارهٔ جهان ۱۱۰ شماره درحیم زادهٔ صفوی لیکنه (طلوع)

د پښتنو ملی شاعر خوشحال خان خټک په خپل ملیت نازېږی اووائی :

د افغان په ننګ می وتړله توره ننګیالی دزمانې خوشحال خټک یم

یو بل پښتون شاعر چه دقبائلی اختلافاتو څخه اوږ پرواز کوی او په خپل ملیت فخر کوی داسی لیکی :

د اسلام نه پس دا فخر راله بس دی چه پښتون یم څه زاخیل او څه بارک

مولوی عبدالمجید افغانی په تاریخ افاغنه کښې داسې لیکی : په پښتنو کښې د شرافت معیار دادی چه سړی دې پښتون وی؛ او په دې شرافت د کوم یو کار اثر نه لوېږی؛ کوم افغان ته دغیرت راوستو دپاره دا وینا کافی ده چه ده ته وویل شی چه «ته پښتون ئی او داسی کار کوی !» او دټولو نه سخت قسم دادی چه دی ووائی: «زه به پښتون نه یم که داسی و کړم» دسیدانو نه پرته دوی د هیڅ قوم شرافت دخپل شرافت نه زیات نه ګڼی»

حضرت سید جمال الدین افغانی په تتمته البیان کښې داسی لیکی : «هر پښتون که څه هم فقیروی داخیال لری چه دی دهرچانه شریف دی؛ ځکه چه پښتون دی؛ او بل داچه کامل ایمان او اسلام پرته دپښتون او عرب نه بل څوك نه لری»

کرنیل میلسون انګریز دخپل تاریخ افغانستان داول باب په آخر کښې دیوې خبرې په ضمن کښې دا عبارت راوړی : «دوی (پښتانه) ډېر په خپل ملك مین او په خپل قام غاور دی» یو پښتون شاعر چه دقام په انحطاط زهېر ېږی نو له همدغې خوا څخه ځان ته وائی او قام ته پېغور ور کوی چه ویښ شی :

مغروره شومه په دې چه افغان یمه زه اګاه نه یمه هیڅ چه نادان یمه زه

د ځانه نه یم خبر، نه له بده حاله والله خزان وهلی، ګلستان یمه زه

د ځان عزت

هر کله چه پښتنو دا ټینګ یقین اوخیال دی چه پښتون یو شریف قام دی نو ځکه دوی همیشه ځانته په درنه ستر ګه ګوری او کوم کار چه سپك او در زیلانو کار وی دهغه نه ځان ساتی او داتقاضا لری چه باید هر څوك دې دوی ته د شرافت په کتنه ګوری دهمدی حس د تېزولو دپاره یو پښتون شاعر وائی :

ته په خپله دځان قدر و کړه باخه که دنیا کښې په عزت اوسېدل غواړې

حضرت سیدجمال الدین افغانی د تتمته البیان په (۱٤۷) مخ کښې داسې لیکی:
«پښتانه بندیان نه خرڅوی که څه هم کافروی، دعاجزانو اولارو و عزت او احترام کوی، غلاغالباً بده ګڼی اګر چه په داده او لوټ سرلوړی کوی او دا معلومه ده چه دلوټ او غلا په منځ کښې دقوت او ضعف فرق دی» د غه ستایلی شوی حضرت دخپل کتاب تتمته البیان د مقدمې په اول کښې داعبارتو نه را وړی (په دې ورځو کښې اخبارو نه د افغان امت په احوال کښې بحثونه کوی چه دځان په عزت توره او لوی همتی سره پېژندل شوی دی، داهغه امت دی چه ددوی نفوس دانه منی چه په عجز سره دې د مکر حیلی او غلونې دسیوری لاندې راشی او ذلت او سپکاوی دی قبول کړی» ددې عبارتو پسې داسی وائی: «دنفس شرافت ددوی قائددی دوی دشرافت مرګ دبې شرفی په ژوند باندې چه داجنبیانو دلاس لاندې وی که څه هم دډېر عیش بنو خورا کو او څکلو سره وی غوره کوی»

لوړ همتی

لوړهمت او دځان عزت دوه لازم اوملزوم شیونه دی. ځکه هر څوك چه د ځان دعزت حس لری هغه هیڅکله دستی او بی همتی کارونه نه کوی، و لی چه داسې شیان ددة په عزت او شرافت کښې نقص راوړلی او داسې سړی هیڅکله دانه قبلوی همدا رنګه څوك چه لوړ همت لری هغه هم بی غیر تی ته تن نه ور کوی. نوځکه دځان دعزت دعنوان نه وروسته دلوړ همتی بیان ډېر مناسب دی. پښتانه لوړ همتونه لری هیڅکله پستی نه قبلوی. دوی په خپله محاوره کښې بی همته سړی ته وائی (سپی دی) او سپیتا نه هم بی همتی ته وائی. لهدې څخه ښکاره کیږی چه پښتانه لهدې پستی څخه ډېر بدوړی او هیڅ وخت دسپی نسبت پرځان نه قبلوی، پښتانه دچامنت هم پرځان نږدی لوفطرتاً استغنا لری. دپښتنو ملی شاعر خوشحال خان په دې لاندې بیت کښې دپښتنولی داروح ښه بیا نوی:

دمنت دارو که مرم په کارمې نه دی که علاج اره مې راشی مسیحا هم

حمید بابا په دې بیتونو کښې د پښتنولی دروحی لوړتیاتصویر په ډېر ښه ډول کوی:

وزی تبزی پروت په خپل پوزی کښې ښه یم نه په تخت دپاسه ناست د بل کړه
د منت پلاو دی زهر شه که ئی مو هی دمحنت سوی سکرک دسا گسره

په دې بیت کښې حمید بابا دپښتنو لړ داضروری شرط په څه ډول ښئی :

یو به نه سم مغلواله درقیب ستا که زو کړی وم ر ښتیا له پښتنی زه

کاظم خان شید اد توریالی خوشحال خان لمسی دعالی همتی اقسام په ښه ډول شمپر لی دی . اودلوړ همت په سبب سره دمخالف سره هم موافق دی .

موافق دمخالف لکه آفتاب یم هیڅ شعله مې دچشمی په اثر نه مری

دلوړ همت تقاضا داده چه هر څومره سړی لوړشی سره ددې به هم تکبر نه کوی شیدا دااخلاقی مسئلة په شاعرانه استدلال داسی بیانوی :

سیه رویه له رفعت لکه دود مه شه دآفتاب غوندې کړه مخ په رخشانی کښې

عالی همت سړی دهرچاسره په ورین تندی گړیږی، چه شیدائی نتائج داسی گڼی :

شگفته کړه لکه لمر تندی هرچاته چه په تله دې سیاپوش تمام جهان شی

طمع هم دلوړ همت سره ضده . عالی همت سړی طامع نه وی ، شیدا په ادیبانه مهارت په خورا دلچسپ ډول دا دپښتنولی خوی روښانه کړی دی :-

په صورت مې شی خولې دحیا ماتې که ونان ته د آفتاب څخه نظر کړم

سوال او غوښتنه دپښتنولی دلوړ همت سره نه ښائی هیڅ پښتون دچا څخه دفقر او در یوزه گری په ډول څه نه غواړی شیدا وائی :

سوال مې خوی له درافشانه ابر نه دی صدف وزانه خپله خوله کړه په غوښتلو

دآفتاب په کمند نه خیژم آسمان ته نه زدم بار لکه شبنم پردوس د گلو

آزادی او حریت

حریت درې درجې لری دفکر حریت ، دقول حریت ، دعمل حریت ، دفکر حریت دادی چه فکر په هغه مسائلو کښې چه په ده باندې واردیږی آزاد او حر وی ، اودعقل دنوامیسو په مقتضی په کښې حکم و کړی . او حریت دقول دادی چه انسان د خپل اعتقاد او وجدان له رویه څه چه په زړه کښې لری هماغه ووائی بی له دې نه چه له

چا څخه‌وویر یږی یا وشرمیږی یادخپلو نفسانی خواهشاتو دائر لانـدی را شـی یا د چـا خوشامند و کړی او دخپل اعتقاد او وجدان نه مخالف ووائی . دفکر حریت داجتماعی ترقی په لار کښی اول قدم دی .

بلـکه دا ددغې ترقي اساس دی لیکن حریت دقول ددې نه ډېر اهمیت لـری ځکه که یو انسان په خپل فکر کښی خطاشی نو ددغه خطا ضرر دهمده پورې منحصر یږی نور امت ته تعدی نه کوی او هرڅه چه دقول حریت دی ' نو دا دملت د ارتقا عنوان بلل کیږی او ددې خوی خاوندان دمصلحت عامه خادمان دی . د قول حریت په ډېرو مظاهرو سره ظهور کوی چه هغه داحوالاتو په اختلاف سره اختلاف‌مومی . دخلقو سره په‌شخصی معاملاتو کښی‌ورځنی‌په‌صدق‌اورښتیاسره‌تعبیر کاوه‌شی‌اودارشاداوتنبیه‌په‌وخت کښی‌ورته‌دوینا‌صراحت‌اوصدق الهجه ویلی‌شی او دانتقـاد او اعتراض پـه لار کـښی ورنه په ادبی شجاعت سره تعبیر کـیږی ' مـگر هرڅومره چه نو مونه او اعتبارات ئی ډېر دی لیـکـن په خپله دی بسیط تعریف لری ' هغـه دادی « د خپل اعتقـاد سره سمه وینا » دتولو نه لوړه درجه ئی « په خپله خطا اعتراف او په خپل عجز اقراردی » مراد دادی چه انسان له خپل اعتقاد سره سم ووائی کـه څه هم دده پـه حق کـښې وی' یوله علمـاؤ څخه وائی « چه انسان همیشه په خطـا دی تر څو چه په خپله خطـا اعتراف و کـړی نودغه وخت مصیب شی . او تـل ضعیف دی تر څو چه پـه خپل عجز اقرار و کـی نو قوی شی » هرڅومره چه سړی دنن ورځې مترقـی امتو نـه وگـوری نووینی چه ددوی دارتقـا اندازه په همدغه خصلت کـیدی شی. یـعنی هر څو مره چه یوامت مترقی او مهذب بلل کیږی هماغومره دا خصلت په هغو کـښې مترقی اوقوی لیده شی . (۱)

دادېره دفخر خبره ده چه پښتانه بالـکـل حردی' او خصوصاً دقول حریت' رښتیا' او صاف ویل ددوی اصلی طبعیت گـرځیدلی دی په ډېرو سختیو او شدایدو او د ځـان په خطر کـښې هم دصدق اوخپل اعتقاد نه خلاف نه وائی او دادوی پښتنو لی گـنی. د یورښتینی پښتون په خبره کـښې کـه څوك یو څه شك یاتردد ښـکـاره کـی؛ دی

(۱) مختارات جرجی زیدان

به یه خورا تأثر او احیاناً په قهر او غضب ووائی «بابازه خو هم پښتون یم!» دتیرو خبرو په مناسبت زمایوه قصه یاده شوه.

غواړم چه دلته ئې ولیکم: قصه: داسی وائی چه داعلیحضرت امیرعبدالرحمن خان په وخت کښې دمشرقی شینوارو ته یوحاکم مقرر شو. ویل کیږی چه دحاکم صاحب د چرګ غوښه او وریجی ډېرې خوښی وې، نود خلقو نه به ئی چرګان، غوړی او وریجی غوښتی، داسی ویل کیږی چه ددغه ځای سپین ږیرو خوواری ده ته عذر وکړو، خو سړی خپله رویه بدله نکړه په اخر کښې خلق تنګ شول کوم یوه ته ئی وویل چه دلحدتیرې ته ئی ولیږی. نو په تویك ئی وویشت او مړئی کړو. امیرعبدالرحمن خان چه ددې واقعی نه خبر شو نودده طبیعی شدت او قهر یو په سله زیات شو؛ نو په ډېر تشدد او غصی سره ئی حکم وکړو چه دحاکم قاتلان دې ځنځیر او زولانه را وستل شی داوه چه دمړی وژونکی په ډېره جلتې سره راوستل شوه او امیر صاحب ته وړاندې کړی شو. امیر صاحب په شاهانه جلال او دبدبه سره چه زنګونه ئی لګولی وو او توره ئې وربانديې ایښې وه، دقهره دکې ستر ګی ئی ورته را و اډولی او به ډېردروند غږئی ورته وویل (.... ! زما حاکم تاسی وژلی دی !!! تاسی ماته پیژنی زه عبدالرحمن یم !!! زه په تاسی سره خپل سلوك وکړم !!!) د امیر صاحب دا خیال دی چه دوی به اوس منکرپیږی او دی به ئې په دې سیاست قایل کړی. دبندیانو له ډلې نه یو په ډېر ډاډه زړه ور وړاندې شو او وی ویل:

په تېرو پنځلسو ورځو کښې د هیواد

او پښتونستان مهمې پېښې

❁ دقوس له (۱) نېټې نه راپه د یخوا یوشمېر دولتي عالي رتبه مامورین ددلکشایه ماڼۍ کښې داعلیحضرت معظم همایوني په حضور مشرف شوي دي.

❁ اود صدارت عظمی په ماڼۍ کښې والاحضرت صدراعظم دځینوقومي خانانو اوقبائلي مشرانو، ملکي اوعسکري منصبدارانوسره وکتل.

❁ دربیع الاول په (۱۲) د سرور عالم صلی الله علیه وسلم دمیلاد ورځ وه او ددې مقدسې ورځې له کبله دسهار په ۹ بجو د سلطنتي سلامخانې په ماڼۍ کښې یواوی مجلس جوړ شوی ؤ، چه هغه ته والاحضرت غازي سپه سالار صدر اعظم او وزیران لښکري اوملکي مامورین د غنډ مشر او مدیر تردرجې پوري اود شوري او اعیانو او تمیز دریاستو اوجمیعت العلماء غړي اونورعلما او مخور کسان راغلي و ددغې نیکمرغي ورځې په شاوخوا کښې په پښتواو فارسي ډېري ویناوي و شوي چه دکابل په رادیو کښې برودکاست کېدلي.

❁ والاحضرت سردار محمدهاشمخان دقوس په پنځمه دسهار په لسو بجو دمعالجې دپاره دکراچۍ په لاره دامریکا خواته وخوځېد.

❁ دقوس په (۱۲) دغرمې نه مخ کښې په لسو بجو دمرحوم والاحضرت دفاتحې آخیستلو مجلس داعلیحضرت معظم همایوني په حضور د پل خشتي په جماعت کښې جوړ شوی ؤ، چه هغه ته د شاهي کورنۍ غړي دوزیرانو هیئت په کابل کښې داسلامي دولتو سیاسي نمایندګان ددواړو مجلسو غړي ملي او عسکري مامورین دښارمشران او مخور کسان اوپښتونستاني میلمانه اود خلکو بېلي بېلي طبقي ددغه مرحوم فاتحې ته راغلي و اودادترحیم مجلس دغرمې تر ۱۲ بجو پوري و.

❁ دقوس په (۱۳) دغرمې نه مخ کښې په لسو بجو دمرحوم والاحضرت د فاتحې آخیستلو مجلس د پل خشتي په جماعت کښې د والاحضرت غازي سپه سالار په حضور جوړ شوی ؤ چه هغه ته هم دشاهي کورنۍ غړي وزیران ملکي او عسکري مامورین دکابل دمرکزاوشپږ کروهي خلک راغلي و، دترحیم دمجلس په آخر کښې والاحضرت غازي داعلحضرت معظم همایوني په وکالت دټولو خلکو دغم شریکي اوښو احساساتو دښکاره کولو څخه تشکرو کړ.

❁ دقوس په (۱۲او۱۳) ورځو په شاهي ارګ کښې دعلیا حضرتي ملکې په حضور دښځو د فاتحې اخیستلو مجلس جوړ شوی ؤ چه هغه ته دشاهي لوئې کورنۍ محترمي میرمنې اونورې محترمې میرمنې ورغلي وې.

❁ دباختر آژانس مخصوص نماینده د منځنۍ پښتونستان دایالتي حکومت له موقتي مرکز (گرویك) نه خبرور کوي چه په دې ورځو کښې جناب عالیجاه حاجي مرزا علیخان د منځنۍ پښتونستان دایالتي حکومت محترم رئیس دداخلي چارو دتنظیمو لواو دملي یووالي دبنسټ د ټینګولو د پاره د منځنۍ پښتونستان په ولایت اوشاوخوا کښې په خپله دوهمه دوره پیل کړي دي چه په دې دوره کښې هم مهمې جرګې وشوې اوغوره تصمیمات ونیول شول چه تفصیل ئې په ورځ پاڼو کښې پرله پسې خپور شوي دي.

دپښتو ټولنی نوی کتابونه

پښتو قاموس

دپښتو قاموس اول ټوك تېر کال په ښه ښکلی قطع په (٦٦٨) مخو کښی چاپ شوی دی چه دپښتو ژبی دلغاتو یوه لویه پانګه لری.

نوی ژوند

دا کتاب په تېر کال کښی په ښایسته صورت چاپ شوی دی د پښتونستان دپېژندنې په باب غوره او لنډ معلومات لری

خوشحال خټك څه وائی ؟

دا کتاب چه دخوشحال خټك په ویناؤ یوه خوږه تبصره ده په تېر کال کښی په نمټو حروفو اوښه چاپ طبع شوی دی.

دعبد الحمید خوندور دیوان

دپښتو ژبی داقیمتی اثر او دنازك خیالی دفتر له چاپ څخه راوتلی دی.

د پښتنو مجاهدې

دپښتنو دتاریخی کارنامو او مجاهدو یولنډ تاریخ دی. چه په پښتو اوفارسی ژبو لیکل شوی او په وړوکی قطعی له چاپ څخه وتلی دی.

پښتو نیار

دا کتاب هم په ښکلی شکل سبز کال دپښتونستان د ورځی په مناسبت دپښتو ټولنی له خوا چاپ شوی او یوښه اثر دی.

* * *

دغه درست کتابونه له پانو ځای څخه په ښه او مناسب قیمت اخیستلای شی !

دکانل په عمومی مطبعی کښی چاپ